


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلامي فرقې

مؤلف

الحاج پروفیسور دکتور قاضی حفیظ الله ښاد جبارخیل

www.melitahrik.com
0777 400 116

۱۳۹۳ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

www.melita... .om
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۲۰ | حروریه |
| ۲ | د اسلامي ۷۳ فرقو لنډه معرفي | ۲۱ | فارقیه |
| ۱ | جبریه | ۲۲ | منکریه |
| ۲ | قدریه | ۲۳ | شبطانیه |
| ۳ | سوفسطانیه | ۲۴ | معتزلیه |
| ۴ | وجودیه | ۲۵ | کیسانیه |
| ۵ | معطلیه | ۲۶ | وهمیه |
| ۶ | سابعه | ۲۷ | مبکریه |
| ۷ | علی العرشیه | ۲۸ | راوندیه |
| ۸ | حلولیه | ۲۹ | مشبهه |
| ۹ | فشاریه | ۳۰ | جهمیه |
| ۱۰ | مهملیه | ۳۱ | زنادقیه |
| ۱۱ | مرجئه | ۳۲ | مترفیه |
| ۱۲ | حبیبیه | ۳۳ | ملاحده |
| ۱۳ | خوفیه | ۳۴ | منجمیه |
| ۱۴ | سارقیه | ۳۵ | وضعیه |
| ۱۵ | ثنویه | ۳۶ | فلاسفیه |
| ۱۶ | اتحادیه | ۳۷ | کرامیه |
| ۱۷ | تناسخیه | ۳۸ | خازمیه |
| ۱۸ | متصلیه | ۳۹ | اباضیه |


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۹ | منفصلیه | ۴۰ | لوزیه |
| ۴۱ | اخشبیه | ۵۸ | حکمیه |
| ۴۲ | تغلبیه | ۵۹ | لاعنیه |
| ۴۳ | قاسطیه | ۶۰ | رجعیه |
| ۴۴ | تکوینیه | ۶۱ | متربصه |
| ۴۵ | متوسمه | ۶۲ | قبریه |
| ۴۶ | محروقیه | ۶۳ | اقفیه |
| ۴۷ | بوستانیه | ۶۴ | حشویه |
| ۴۸ | مفروعیه | ۶۵ | فانیه |
| ۴۹ | نجاریه | ۶۶ | اثریه |
| ۵۰ | خارجیه | ۶۷ | مولهیه |
| ۵۱ | شیعیه | ۶۸ | مبدلیه |
| ۵۲ | رافضیه | ۶۹ | کنزیه |
| ۵۳ | امامیه | ۷۰ | صوفیه |
| ۵۴ | ناوسیه | ۷۱ | دهریه |
| ۵۵ | امیریه | ۷۲ | شمراخیه |
| ۵۶ | اسماعیلیه | ۷۳ | سنیة |
| ۵۷ | جلامره | | |

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: اسلامي فرقې
لیـــکوال: دوکتور پروفیسور قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل
خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه
د خپرندوی پرله پسې نومره: (۱۰)
پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید
کمپوز: ظفر اقبال
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپ وار: لومړی
چاپ نېټه: ۱۳۹۳ ل کال

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل ددې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم ددې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلې، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړي. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.

د تحریک دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وپتېیله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.

دا اثر (اسلامي فرقې) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (پروفیسور ډاکټر قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل) لیکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله

په درناوي

د افغانستان ملي تحریک

فرهنګي څانګه

www.meljtahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

الحمد لله والصلوة والسلام علی رسول الله الذی قال : "ستفرق امتی ثلاثة و سبعین فرقةً احدیها الناجیه" [1] یعنې لوی څښتن لره ستاینه ده او په رسول الله صلی الله علیه وسلم دې درود او سلام وي هغه چې فرمایلي یې دي : زما امت به درې اویا فرقې شي یوه به یې ناجیه وي، د دغه مطلب د وضاحت لپاره چې د اسلام د درې اویا ملتونو د پېژندلو په لټه کې شوم دې برخه کې چې کوم کتابونه لیکل شوي دي له هغو څخه مې د (هفتاد و سه ملت) په نوم کتاب خوښ شو چې اتمې هجري پېړۍ کې لیکل شوې او د پاریس ملي کتابتون کې کوم تن پورې تعلق لري او په ۸۸۷ هجري کال په اهتمام او تصحیح د دکتور محمد جواد

www.meltahrik.com 0777 400 116

---

[1]. دا حدیث مکمل په دې ډول دی : "لیاتین علی امتی ما اتی علی بنی اسرائیل حذوالنعل بالنعل حتی ان کان منهم اتی امة علی نیة لکان فی امتی من یصنع ذلک، و ان بنی اسرائیل تفرقت علی اثنتین و سبعین ملة و تفترق امتی علی ثلاثة و سبعین ملة کلهم فی النار الاملة واحدة، ما انا علیه و اصحابی (جامع الصغیر سیوطی ج ۲ ص ۳۸۲، یعنې زما په امت به هغه څه راشي، چې په بني اسرائیلو راغلي و په برابرۍ د څپلۍ له څپلۍ سره حتی که څوک چېرې ښکاره میخې سره راتګ وکړي زما په امت کې به هم هرومرو څوک همداسې وکړي، او بېشکه بني اسرائیل دوه اویا ملته دي او زما امت به درې اویا ملته شي. ټول به په اور کې وي مګر یو ملت کوم، چې زه او زما اصحاب په هغه یو (سیوطي د جامع الصغیر په ۲ جلد ۳۸۲ مخکې راوړې دی) او ما دلته له (هفتاد و سه ملت) کتاب څنې رانقل کړ چې دوکتور محمد جواد مشکور د پوهنتون استاد په اهتمام او تصحح رسیدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشکور استاد د پوهنتون رسیدلې ده.[۱] نوم او لیکوال یې معلوم نه دیخو له متن یې معلومیږي، چې د جلال الدین بلخي له ژوندانه وروسته په تبریز کې د اتمي پېړۍ له علماوو چا لیکلې ده، لیکوال یې ځان اهل سنت او جماعت بللی او هاند یې کړی دی، چې کومې فرقې ته د کفر نسبت ونه کړي، د دغې نسخې د لیکلو سبک صوفیانه دی، آیات او احادیث په کې راغلي دي له هغو ثرگندیږي، چې لیکوال یې صوفي او خطیب دی او د هرې فرقې عقاید یې چې بیان کړي له هغو داسې ښکاري، چې د دې قلمي نسخې مؤلف د عقایدو له کلامي کتابو لیکلي دي او د نورو کلامي کتابو په څېر یې تالیف کړی دی، دې کتاب کې د اسلامي درې اویا فرقو نومونه داسې راغلي دي.[۲]

| | | |
|---|---|---|
| ۱_ جبریه | ۲_ قدریه | ۳_ سوفسطائیه |
| ۴_ وجودیه | ۵_ معطلیه | ۶_ سابقیه |
| ۷_ علی العرشیه | ۸_ حلولیه | |
| ۹_ فثاریه | ۱۰_ مهملیه | |
| ۱۱_ مرجئه | ۱۲_ حبیبیه | |
| ۱۳_ خوفیه | ۱۴_ سارقیه | |
| ۱۵_ ثنویه | ۱۶_ اتحادیه | |
| ۱۷_ تناسخیه | ۱۸_ متصلیه | |

---

[۱]_ دا نسخه د حسن بن شمس الحسیني الاسترابادی کاتب په لاس د تبریز په دارالسلطنه کې لیکل شوې ده. فعلاً د پارس ملي کتابتون کې په ۲۸ شماره له نورو فارسي نسخو سره ده.

[۲]_ هفتاد و سه ملت کتابت شده ۸۸۷ سال هجری به اهتمام و تصحیح دکتور محمد جواد مشکور استاد پوهنتون.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹_ منفصلیه
۲۰_ حدودیه
۲۱_ فارقیه
۲۲_ منکریه
۲۳_ شیطانیه
۲۴_ معتزلیه
۲۵_ کیسانیه
۲۶_ وهمیه
۲۷_ بکریه
۲۸_ راوندیه
۲۹_ مشبهه
۳۰_ جهمیه
۳۱_ زنادقیه
۳۲_ مترفیه
۳۳_ ملاحده
۳۴_ منجمیه
۳۵_ وضعیه
۳۶_ فلاسفه
۳۷_ کرامیه
۳۸_ خازمیه
۳۹_ اباضیه
۴۰_ نوریه یا لوزیه
۴۱_ خشبیه
۴۲_ تغلبیه
۴۳_ قاسطیه
۴۴_ تکوینیه
۴۵_ متوسمه
۴۶_ محروقیه
۴۷_ بوستانیه
۴۸_ مفروعیه
۴۹_ نجاریه
۵۰_ خارجیه
۵۱_ شیعه
۵۲_ رافضیه
۵۳_ امامیه
۵۴_ ناوسیه
۵۵_ امیریه
۵۶_ اسمعیلیه
۵۷_ جلامده
۵۸_ حکمیه
۵۹_ لاعنیه
۶۰_ رجعیه
۶۱_ متربصه
۶۲_ قبریه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶۳_ واقفیه
۶۴_ حشویه
۶۵_ فانیه
۶۶_ اثریه
۶۷_ مولهیه
۶۸_ مبدلیه
۶۹_ کنزیه
۷۰_ صوفیه
۷۱_ دهریه
۷۲_ شمراخیه
۷۳_ سنیه

د اسلامي درې اویا فرقو شمېر او نومونه مو چې د کلامي نورو کتابونو سر سره ورکړ یو بل سره تطابق نه لري. ځینو کې په یوه نوم او نورو کې په بل نوم وي. ځینو کې یې شمېر په یوه اندازه او نورو کې په بله اندازه وي خو په (هفتاد و سه ملت) نومي ذکر شوي کتاب کې چې راغلي زما خوښ شوی. له هغه مې په خپل سبک د جلا کتاب په حیث په خپل عبارت پښتو ژبه کې په لاندې ډول راوړل چې د هرې فرقې شمېر، نوم، د تسمیې وجه، عقیده او دلیل یې او د اهل سنت او جماعت عقیده او دلیل یې د جلا جلا ورکړو عنوانونو په شکل په کې راوړی. الله تعالی دې مونږ ته او زمونږ مور او پلار او نورو مسلمانانو ته پرې مغفرت نصیب او دارینو کې ثوابونه پرې راپېرزو او رابانده ولوروي او توفیق راکړي چې په صحیح ډول له حقیقت سره موافق یې په تصنیف او تالیف توفیق راکړي. دا دی چې د هرې فرقې لنډه یادونه په لاندې ډول وړاندې کوم.

په درناوي
الحاج پروفیسور دکتور قاضي حفیظ الله بناد جبارخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلامي (درې اويا) فرقو معرفي

## ۱ـ جبريه :

**د نوم وجه :**

دوی ته د دې لپاره جبريه وايي چې وايي : افعال د بندګانو په جبر دي او انسان ته په خپلو افعالو اراده او قدرت نشته دی، او درې ډلې لري : حميه، نجاريه، ضراريه چې اولې دوه يې وروسته راځي او ضراريه يې د ضرار بن عمر پيروان دي. دوی وايي : خدای تعالی قادر او عادل دی په دې معنا چې جاهل او عاجز نه دی او وايي : خدای تعالی غير له خپله ده څخه بل څوک نه پېژني او وايي : خدای تعالی په شپږم حس ليدل کيدلای شي، د امامت مسئله کې وايي چې د امامت مقام ته د رسيدلو صلاحيت غير قريشي کسان لري نو که د امامت مقام ته يو قريشي او بل نبطي داوطلب شي بايد نبطي انتخاب کړو ځکه چې قدرت يې کم دی. [1] نو جبريه وايي چې بنده هيڅ قدرت نه لري.

**عقيده :**

جبريه عقيده لري، چې انسان په خپلو حرکاتو او سکناتو کې هيڅ اختيار نه لري، د انسانانو حرکات او سکنات په قضا او قدر پورې اړه لري نه په ارادې او اختيار پورې، بندګان قول لري نه فعل، نه خير لري

---

[1]ـ هفتاد و سه ملت ص ۱۰۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شر، نه طاعت لري نه معصيت ځکه چې انسان حول او قوة نه لري الله تعالی حول او قوة ورکوي.[1]

د جبريه دليل: (لا حول ولا قوة الا بالله العلی العظيم) يعنې د يوه کار او عمل له اجرا کيدلو انصراف او ګرځيدل نه شته او نه د هغه په اجرا کولو قوت او توفيق شته مګر په الله تعالی دا دواړه کيږي.[2] دوی وايي: الله تعالی په يو ځيز (د مخه تر وقوع د هغه ځيز) علم وربانديې نه لري.[3]

**اهل سنت او جماعت:**

اهل سنت او جماعت د انسان د فعل په برخه کې داسې عقيده لري، چې: هر څه د الله تعالی په ارادې او مشيت پورې اړه لري لکن په دې ترخ کې بندګانو ته هم يو څه اختيار شته دی. لکه د (آس) حرکت چې سواري والا، لاندې هم د ده په اختيار کې ده او هم بې اختياره ده، که انسان ته دومره اختيار نه وي نو د شرع او امر او نواهي عبث تلقي کيږي.

**د اهل سنت او جماعت دليل:**

"افحسبتم انما خلقناکم عبثا"[4] يعنې آيا ګمان کوئ چې په تحقيق سره ما تاسې عبس پيدا کړي يئ؟ دا انکاري استفهام دی يعنې عبث نه

---

[1]_ همدغه ذکر شوی مرجع ص ۱۷.

[2]_ لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظيم دواء من تسعة و تسعين داء ايسرها الهم (جامع الصغير سيوطی ج ۲/ص/۲۴۳)

[3]_ جبريه وايي: علم د خدای تعالی حادث دی نه په محل کې او وايي: خدای تعالی په هغو صفاتو نه متصف کيږي په کومو چې نور متصف کيږي. لکه علم او قدرت او جبريه وايي چې جنت او دوزخ هم فنا کيږي. (مواقف ج ۳ ص ۲۹۴)

[4]_ المؤمنون / ۱۱۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يئ پيدا شوي، داسې د عبادت لپاره پيدا شوي يئ.

## ۲ـ قدريه :

**د نوم وجه :**

قدريه فرقې ته د دې لپاره قدريه وايي چې دوی وايي د خدای تعالی تقدير په کفر او ګناهو کې نه شته.[(۱)]

**عقيده :**

قدريه فرقه عقيده لري، چې هر څه مونږ کوو په خلاف د جبريه وو چې هغوی هر څه له خدای تعالی ګڼي. قدريه وايي : د اختيار سررشته زمونږ په لاس ده، طاعت، معصيت، خير او شر د بندګانو فعل دی نه په قضا ده او نه په قدر او نه د بل چا په غوښتنه، د خدای تعالی خواست اراده او مشيت زمونږ په کار باندې کار نه لري، که نه نو ولې انسان په خپل عمل نيول کيږي.[(۲)]

**دليل يې :**

کل نفس بما کسبت رهينة.[۳]

حاصل يې دا دی، چې جبريه وايي هر څه دی کوي او قدريه وايي هر څه مونږ کوو، قدريه د خدای د قدرت قدرونه پېژاند په ځان غره شول او جبريه د هغه په حکمت پوه نه شول. د ده له عدل غافل شول، د جبريه وو

---

[۱]ـ هفتاد و سه ملت ص ۱۸.

[۲]ـ ذکر شوې مرجع ص ۱۸.

[۳]ـ المدثر / ۴۱ ژباړه : هر چا چې څه کړي وي په هغه نيول کيږي حاصل دا دی، چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقصد دا دی، چې رسول الله سره منازعه وکړي او د قدریه وو مقصد دا دی، چې په لا اله الا الله تمسک وکړي. [۱]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت عقیده لري، چې وایي : مونږ نه جبریه یو او نه قدریه، بلکې میانه حاله یو یعنې د افعالو صورت له بندګانو دی.

**دلیل** : یو خو دا ، چې د قدریه وو په ذم کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم روایت شوی دی، چې :

"القدریه مجوس هذه الامة" یعني قدریه د اسلامي امت مجوس دي.

اوعلي کرم الله وجهه ویلي دي : "لا خیر و لا تفویض" یعني نه هر څه دی کوي، چې په جبر سزا د اعمالو ورکوي او نه یې هر څه د انسان په اختیار کړي دي او نه یې هر څه ورته سپارلي دي، بلکې لکه د مخه مو چې وویل : د خیر او شر اندازه کوونکی دی دی، خو خدای تعالی په کفر رضا نه دی او صورت د افعالو له بندګانو دی.

## ۳ـ سوفسطائیه :

**د نوم وجه :**

سوفسطائیان د پنځمې ق م پېړۍ او اخرو کې یونان کې پیدا شول. ځرنګه، چې دوی د غلبې لپاره په خپل مقابل باندې هرې وسیلې نه کار اخیست او مباحثه به یې کوله نو (سفسطایي) نوم دې ته علم شو، چې د دوی طریقه او شیوه سفسطه ونومول شوه. [۲]

---

۱ـ هفتاد و سه ملت ص ۱۸.

۲ـ فروغي شرح حکمت چې اروپا کې چاپ شوی ۱۷ مخ له (هفتاد و سه ملت) ځخه ص ۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عقيده :**

سوفسطانيان عقيده لري، چې هيڅ شی وجود نه لري، خپل ځانونه او نور هر څه خيالات ګڼي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت دغه د سوفسطائيانو عقيده ردوي.

**دليل** : اهل سنت او جماعت وايي که په سوفسطائيانو اوبه او ډوډۍ بند کړو او دوی له تندې او ولږې چغې ووهي بيا ورته ووايو : غم مه کوئ دا ټول خوب او خيال دی هغه وخت به د اشياوو په حقيقت اعتراف وکړي.

## ۴ـ وجوديه :

**د نوم وجه :**

دوی ته ځکه وجوديه وايي، چې هر څه د خدای تعالی په واجب الوجود کې بولي.

**عقيده :**

وجوديه عقيده لري، چې په وجود کې بې له الله تعالی او بې د ده له افعالو بل څه نشته هر څه چې دي هغه دی دی.

**دليل** : الحق "الحق محسوس و الخلق مغفول، هو الاول والاخر و الظاهر و الباطن" [۱]

---

[۱] ـ يعنې : حق محسوس دی او خلق غافله دی، دی (الله) اول دی او آخر دی، ظاهر دی او باطن دی هر څه چې دی دی دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي خداى تعالى لطيف دى په دنيا كې په ظاهري او باطني حواسو نه احساسيږي. هغه قادر دى هر څه د ده بندګان دي. [1]

## ۵_ معطليه :

د نوم سبب :

معطليه ته ځكه معطليه وايي، چې دوى خداى تعالى معطل بولي (العياذ بالله) وايي هيڅ شى پيدا كوونكي ته اړتيا نه لري ټول ځيزونه په خپله پيدا شوي دي. [2]

**عقيده :**

لكه چې د معطليه د نوم د تسميې په وجه كې ورته اشاره وشوه، دوى عقيده لري، چې عالم د مخلوقات هميشه په خپله موجود و او تل به موجود وي نه د كوم يوه صانع په توګه او نه د كوم حكيم په واسطه. [3]

**دليل :**

خوانده در ګوش او در و ديوار ليس فى الدار غيرنا ديار [4]

**اهل سنت او جماعت :**

---

[1] _ اهل سنت او جماعت وايي : دا له حقيقت ډېره لرې خبره ده، چې رازق دې مرزوق وي او عابد دې معبود، ساجد دې مسجود وي او خداى تعالى مخلوقات په تېره پيريان او انسان د خپل عبادت لپاره پيدا كړي دي او هر څه د ده مخلوق او بندګان دي لكه چې فرمايلي يې دي : " إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمَوٰتِ وَالْأَرْضِ إِلاَّ آتِي الرَّحْمَنِ عَبْداً" مريم / ۹۴. يعنې هر څه چې په ځمكه او آسمانو كې دي خداى تعالى ته رجوع كوي په بندګۍ سره.

[2] _ هفتاد و سه ملت ص ۲۱.

[3] _ همدغه مرجع ص ۲۱.

[4] _ همدغه مرجع ص ۲۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي : د معطليه وو عقيدې ته نه تسليم کېږو ځکه چې بې مدبره د يوه مملکت پيدا کيدل او بې صانع صنع منځ ته راتلل محال او ناممکن دي، بلکې د دې جهان او د هغه جهان پيدا کوونکی او د ټول عالم (مخلوق) خالق واحد او لا شريک الله تعالی دی ځکه چې بې له معمار د تعمير جوړول امکان نه لري. د الله تعالی شته والی د ده په ذات ده او د نورو هر شي هستي او شته والی په الله تعالی ده، صفات يې د چا صفاتو ته ورته نه دي. قديم دی، د الله تعالی وجود ترکيب نه لري، ژوندی، دايم، مقتدر، متکلم، ليدونکی، اوريدونکی دی، په دغو او ذاتي صفاتو متصف دی. [۱]

معطليه فرقه د شيعه فرقې ضد ده. دوی وايي د مخلوق په صفاتو بايد خدای تعالی موصوف نه شي نو بايد ونه ويل شي، چې خدای تعالی شی دی يا موجود يا ژوندی يا قادر يا عالم يا سميع يا بصير يا په مثل دد ې دی، دوی وايي په قرآن بايد توقف وکړو ونه وايو چې مخلوق دی يا غير مخلوق. [۲]

خو اهل سنت او جماعت لکه د مخه مو چې وويل د دوی دا عقايد ردوي وايي : الله تعالی شی دی نه لکه نور اشيا او د نورو ذکر شويو صفاتو لرونکی دی خو د ده صفات داسې نه دي لکه د مخلوق صفات، بلکې د ده صفات داسې دي، چې د ده له شان سره ښايي. [۳]

---

۱_ هفتاد و سه ملت ص ۲۱..

۲_ هفتاد و سه ملت ص ۲۱.

۳_ هفتاد و سه ملت ص ۲۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲_ سابقیه :

د نوم کېښودلو وجه :

سابقیه ځکه ورته وایي، چې دوی هر څه سابق (پخوانی) شوی بولي وایي هر څه شوي او لیکل شوي مقرر شوي دي. اوس هماغسې چې سابق مقرر شوی هماغسې کیږي.

**عقیده :**

لکه چې د تسمیې په وجه کې مو ورته اشاره وکړه د سابقیه فرقه عقیده لري، چې انسانان دوه ډلې دي یوه شقي بله سعیده. نو شقي ته هیڅ نیک عمل ګټه نه رسوي او سعید ته هیڅ بد عمل زیان نه لري.[۱]

**دلیل :**

سابقیه دا قدسي حدیث سند نیسي : "هؤلاء فی الجنة و لا ابالی و هؤلاء فی النار و لا ابالی" یعني دا ډله په جنت کې ده زما پرې پروا نشته او دا ډله د دوزخ کې ده زما پرې پروا نشته ده.[۲]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : د جنت نعمتونه د صالحانو د عمل په ثواب کې ورکول کیږي او د دوزخ عذابونه د کفارو او بدکارانو د اعمالو په سزا کې ورکول کیږي.

**دلیل :**

---

۱_ هفتاد و سه ملت ص ۲۱.
۲_ هفتاد و سه ملت ص ۲۱.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی فرمایلي دي : "و حور عـین کامثـال اللؤلـؤ المکنـون جزاءً بمـا کانوا یعملون" [١] یعنې حور عین چې د جوړو شویو ملغلرو پـه څېـر دی ثـواب د هغـو عملـو د دوی دی، چې کـړي یـې دي او فرمـایلي یـې دي : "جزاءً وفاقا" [٢] یعنې موافقه له اعمالو سره یې سزا ده، چې ځنځیرونـه او کړی، زولنې کفارو ته د دوی د بدو عملو له امله مقرر دي. [٣]

# ٧_ علی العرشیه :

**نومولو وجه :**

علی العرشیه ته د دې لپاره علی العرشیه وایي، چې دوی خدای تعـالی ته په عرش مقرر بولي بل ځای کې یې نه بولي.

**عقیده :**

علی العرشیه عقیده لري، چې د خدای تعالی قرارگاه عرش دی بـل ځـای نـه دی، له هغه ځای هر څه ویني او د هر شي په حال حاضر او قادر دی.

**دلیل :**

د دوی دلیل دا مبارک آیت دی "الـرحمن علـی العـرش اسـتوی" [٤] یعنـې رحمن په عرش تکیه کړې ده، دوی وایي له همدې امله خلق پـه دعـا کـې د عرش په لوري دعا کوي. [٥]

**اهل سنت او جماعت :**

---

[١] الفاطر / ١١.

[٢]_ الواقعه / ٢٢-٢٣.

[٣]_ هفتاد و سه ملت ص ٢١.

[٤]_ طه / ۴.

[٥]. درې اویا ملت ص ٢٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي : عرش د خدای تعالی عامه بارگاه ده، چې د خلقو د حاجتو قبله ده، ځکه يې وفرمايل : "الرحمن على العرش استوى" او داسې يې ونه ويل : "الله على العرش الستوى، که نه د ځمکې او اسمانو يوه طبقه او د ټولو مخلوقاتو ذره ذره د خدای تعالی له نظره لېرې نه دی. [1]

**دليل :**

د خدای تعالی شته والی له عالم سره داسې دی لکه د روح له بدن سره نو هغسې چې روح د قالب په هره برخه احاطه ولري د خدای تعالی مقدس ذات ټولو ذراتو او د عالم په اجزاوو محيط دی. [2]

## ۸_ حلوليه :

**د تسيمې وجه :**

حلول د دوه جسمو اتحاد ته وايي لکه اوبه چې ګلاب کې حلول وکړي. که يوه ته اشاره وشي (اوبو ګلاب ته) هغه اشاره بل ته هم وي [3] او دې فرقې ته د دې لپاره حلوليه وايي، چې صوفيان وهم کوي، چې دوی ته حلول يا اتحاد حاصل شوی دی. د دې فرقې لومړني مدعيان روافض وو. [4]

**عقيده :**

---

[1]_ هفتاد و سه ملت ص ۲۴.

[2]_ هفتاد و سه ملت ص ۲۴.

[3]_ تعريفات جرجاني.

[4]_ فخر الدين رازي اعتقادات فرق المسلمين ص ۷۳ (هفتاد و سه ملت ص ۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حلولیه عقیده لري، چې زړه له جنایتو پاک او خدای تعالی سره علاقه ونیسي فراخه شي، خدای تعالی په کې نزول وکړي، چې د خدای تعالی قدرتونه ترې ښکاریږي لکه معجزې او کرامات، چې له هغه بنده ښرګندیږي لکه سیند په امسا څېرول، دمړي ژوندي کول، سپوږمۍ په اشاره دوه نیمه کول او کرامات لکه په اوبو روانیدل، په لږ وخت کې اوږده فاصله وهل او داسې نور، دغه ټولې معناګانې له هغه ځایه صادریږي، چې خدای تعالی په کې نزول لري.[1]

**دلیل :**

و لیس فیجبتی الا الله و انا الحق[2] یعنې په جبه (زړه) کې مې غیر له الله بل څه نه شته او زه حق یم.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي د انسان زړه حد او نهایت لري او خدای تعالی بې حده او بې نهایته دی په زړه کې نه ځائیږي.

**دلیل :**

نو که لمر د طشت په اوبو کې ولیدل شي هیڅ عاقل به ونه وایي چې لمر له څلورم فلک طشت ته راکښوتی دی نو حلول او انتقال الله تعالی ته

---

[1]ـ هفتاد و سه ملت ص ۲۵.

[2]ـ په دې قول د بایزید بسطامي هغه قول ته اشاره ده، چې په تذکرة الاولیا د شیخ عطار طبع تهران ج ۱ ص ۱۲۹ کې یې داسې ویلي دي: سبحاني ما اعظم الشانی، و لیس فی جبتی سوی الله و انا الحق یعنی ما لره پاکي ده زما شان څومره لوی دی. په زړه کې مې بې له الله تعالی بل څوک نشته او زه حق یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومه لاره نه لري او هغه ورنه پاک دی. تعالی عن ذلک علوا کبیراً
یعنې الله تعالی لوړ او منزه دی له دې څخه په لوړتیا سترې سره.[1]

# ۹_ فثاریه :

**د نومولو وجه :**

فثار د عبث او بیهوده معنا لري د (غُراب) غوندې تلفظ کیږي او عربي کلمه نه شمېرل کیږي، بلکې نورو ژبو کلمه ده اغلباً ښايي فارسي لفظ وي څرنګه چې د فثاریه و عقیده هم بېهوده او عبث ده له دې امله په دغه نوم نومول شوی دی.[2]

**عقیده :**

فثاریه فرقه عقیده لري چې : د ټولو پلار او مور ادم او حوا دي، ښځې او نر یو د بل خور او ورور دی، د دنیا مال یې د میراث په توګه ترمنځ شریک دی نر ته دوه برخې د ښځو ده یعنې نر دوه سهمه او ښځې یو سهم لري. "للذکر مثل حظ الانثیین"[3] یعنی نر ته برخه د دوه ښځو ده.

**دلیل :**

د دوی دلیل د عقیدې عنوان لاندې پاس ذکر شو.

**اهل سنت او جماعت :**

---

[1]_ هفتاد و سه فرقه ص ۲۲.
[2]. منتهی الارب.
[3]. النساء / ۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وایي : پېړۍ واوښتې، مختلف نسلونه منځ ته راغلل، خدای تعالی انبیاء او رسولان ورته راولېږل، شریعتونه یې ورته راوړل، له ټولو شعبو او قبیلو یې د تقوی څښتنان غوره وګڼل.[1]

**دلیل :**

"یاایها الناس انا خلقناکم من ذکر و انثی و جعلنا کم شعوباً و قبائل لتعارفوا ان اکرمکم عندالله اتقکم"[2] یعنی ای خلکو هرو مرو موږ پیدا کړئ له نر او ښځې او ځانګې مو جوړ کړئ چې یو بل سره وپېژنئ بېشکه د ښه کرامت والا له تاسې څنې د الله تعالی په نزد هغه ښه تقوا لرونکی ستاسو دی.

## ۱۰_ مهملیه :

**د نوم وجه :**

مهملیه عقیده لري، چې خدای تعالی غني دی د چا د ښو یا بدو ګټه او یا تاوان نه ورته رسیږي، هر څه چې غواړئ ویې کړئ او هر ډول چې غواړئ واوسئ.

**دلیل :**

دا قول د خدای تعالی "یاایها الناس انتم الفقراءُ الی الله والله هو الغنی الحمید"[3] یعني ای خلکو تاسې خدای تعالی ته فقیران یاستئ او الله تعالی هم دی غني او ستایل شوی دی.

---

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۲۲.

[2]. الحجرات / ۱۳.

[3]. الفاطر / ۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : سمه ده، چې اهل دنيا د خدای تعالی دربار ته فقيره ا و محتاجه ده ځکه چې ټول هغه ته عبادت کوي خو دا چې په عبادت يې ګومارلي د ښو ثواب او بدو او نافرمانۍ عذاب مقرر دی. نو معلومه ده، چې خلک د خپل سر څښتنان نه دي مکلفيت لري په اوامرو او نواهيو موظف دي.

**دليل :**

"وما خلقت الجن و الانس الا ليعبدون" [1] يعني ما پېريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د عبادت لپاره مې پيدا کړي دي.

## ۱۱ـ مرجئه :

**د نوم وجه :**

مرجئه په دې نوم ځکه ملقبه شوي ده، چې د خپل عمل د مرتبې په تاخير عقيده لري نو (مرجؤن) د (يؤخرونه) په معنا نيسي ځکه، چې : دوی عقيده لري له ايمان سره معصيت ضرر نه لري لکه کفر سره چې طاعت نفع نه لري. [2]

**عقيده :**

مرجئه عقيده لي، چې هر څوک ايمان لري ګناه ورته زيان نه شي رسولای لکه چې کفر ته هيڅ نيک عمل ګټه نه شي رسولای. [3]

**دليل :**

---

[1]. الذاريات / ۵۲.

[2]. هفتاد و سه ملت ص ۲۷.

[3]. هفتاد و سه ملت ص ۲۷.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی وایي ایمان ته ګناه زیان نه رسوي.

**اهل سنت او جماعت وایي :**

مسلمان د خدای تعالی په اطاعت موظف او مکلف امر او نهي ته یې تسلیم دی.[1]

**دلیل :**

دلیل یې دا قول د خدای تعالی دی : "واعبد ربک حتی یاتیک الیقین"[2] یعنې خدای تعالی ته عبادت وکړه ځو دې یقین راشي، څو چې روح دې په تن کې وي طاعت او عبادت لازم دی.

## ۱۲ _ حبیبیه :

**د نوم وجه :**

دې فرقې ته ځکه حبیبیه وایي، چې عقیده کې یې داسې دي : څوک چې خپل محبت خدای تعالی سره محکم کړي خپل نفس ورتې په عبادت کې منتها درجې ته ورسېږي امر او نهي ورنه رفع کیږي ځکه چې حبیب اذیت او ضرر خپل خبیب (دوست) ته نه رسوي.[3]

لکه چې په دې نوم د تسمیې په وجه کې مو ورته اشاره وکړه، حبیبیه فرقه عقیده لري، چې : څوک د خدای تعالی په مینه مست شي عبادت ورته ساقط شي.

**دلیل :**

---

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۲۷.

[2]. الحجر / ۹۹.

[3]. هفتاد و سه ملت ص ۲۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه قدسـي حـديث شـريف کـې راغلـي دي : لا يـزال العبـد يتقـرب الـى بالنوافل حتى احبه فاذا احببته کنت له سمعاً و بصراً و لساناً و يداً فبى يسمع و بى يبصر و بى ينطق و بى يبطش فسقط عنه العبادة و الارکان.
[1] يعنې بنده تل ما ته په نوافلو رانږدې کيږي څو چې پر ما ګران شي نو کله چې پر ما ګران شي زه د ده غوږونه، سترګې، ژبه او لاس شم نو په ما اوري او پر ماويني او پر ما خبرې کوي او په ما رانيول کوي نو تکليف ورنه رفع (پورته) شي او اعمال ترې ساقط شي. [2]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : خدای تعالی سره د محبت نښه دا ده، چې د خدای تعالی د رسول متابعت وشي.

**دليل :**

الله تعالى فرمايلي دي : "قل ان کنتم تحبون الله فاتبعوني يحببکم الله"
[3] يعنې ووايه ای محمده دوی ته، چې : که غواړئ، چې خدای تعالی درباندې ګران شي نو زما تابعداري وکړئ تاسې به په خدای تعالی ګران شي. [4]

# ۱۳_ خوفيه :

**په دې نوم د نومولو وجه :**

---

[1]. دا حيث به (الاتحاف السنيه فی الاحاديث القدسيه) کتاب ۱۸ مخ کې راغلي چې د محمد المدني تاليف دی او په ۱۳۵۸ حيدرآباد کې چاپ شوی دی. (هفتاد و سه ملت ص ۲۷).

[2]. هفتاد و سه ملت ۲۸ مخ.

[3]. ال عمران / ۲۹.

[4]. هفتاد و سه ملت ص ۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې فرقې ته ځکه خوفيه وايي، چې : خوف د وېرې او ډار معنا لري د دوی په عقيده کې داسې دي، چې حبيب له حبيب خوف نه لري او پوره تفصيل به يې لاندې د (عقيده) عنوان لاندې راشي، له دې کبله ورته خوفيه فرقه وايي.

**عقيده :**

خوفيه فرقه عقيده لري، چې : څوک مومن وي هغه ته خوف نه وي ځکه چې دی حبيب (دوست) دی او دوست له دوست خوف (وېره) نه لري او له عادل پاچا هم د دوستانو وېره نه وي نو هر چا باندې، چې خدای تعالی ګران وي له هغه وېرېدل به يې له نادانۍ کم نه وي، ولې؟ دوست له دوست وو ېرېږي؟ [1]

**دليل :**

و ليس الخوف من الحائز الامر العادل [2]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : د دين بنياد په وېره او اميد کېښودل شوی دی، چې د خوف او رجا ترمنځ به د دوه وزرو ترمنځ مرغه په څېر وي، چې دواړه وزرونه هوا کې برابر وړي. [3]

**دليل :**

الخوف من الله تعالی نصف العبادة يعنې له خدای تعالی وېره نيم عبادت دی او الله تعالی فرمايلي دي : "و يامن مکر الله الا القوم

---

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۲۸.

[2]. ال عمران / ۲۹.

[3]. هفتاد و سه ملت ص ۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الکافرون" همدارنګه يې فرمايلي دي: "افامنوا مکر الله فلا يامن مکر الله الا القوم الخاسرون" [1] يعني د خدای تعالی له مکر څوک ځان په امن نه ګڼي مګر کافران، او هم يې فرمايلي دي: آيا د خدای تعالی له مکر په امن دي نو د الله له مکر څوک نه په امن کيږي مګر هغه قوم، چې زيان کاران وي.

## ۱۴_ سارقيه:

**د نوم د تسميې لامل:**

سارقيه فرقې ته ځکه دا نوم کېښودل شوی دی، چې د دوی عقيدې سره برابري لري او د دوی عقيده داسې ده، چې څوک د مثال په ډول لس روپۍ غلا کړي يا يې په ظلم له چا واخلي او يوه روپۍ ترې خيرات کړي. هغه د ټولو روپيو کفاره شي نو د (سارقيه) نوم چې له سرقې اخستل شوی دی او سرقه غلا ته وايي او د غلا شوي مال په برخه کې په پوره ډول عقيده لري؛ ځکه ورته دغه د (سارقيه) لقب ورکړ شوی دی.

**عقيده:**

پاس مو اشاره ورته وکړه، چې سارقيه طائفه عقيده لري، چې: څوک لس درهمه غلا کړي بيا له هغې يو درهم صدقه کړي نو د دغو ټولو کفاره کيږي.

**دليل:**

---

[1]. الاعراف / ۹۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا قول د خدای تعالی "من جاء بالحسنة فله عشر امثالها" [1] یعني ځوک چې یوه نیکي وکړي هغه ته په مثل د هغو لس چنده ثواب دی نو ځرنګه چې له لسو درهمو د یوه درهم صدقه نیکي ده او یوه نیکي په لسو شمېر ده ځکه د لسو غلا شویو روپیو د یوې روپۍ صدقه د ټولو لسو درهمو کفاره کیږي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : حرام مال په صدقه کې نه عوض کیږي او په هیڅ ډول حرام نه قبلیږي.

**دلیل :**

نبي علیه السلام فرمایلي دي : "ان الله طیب لا یقبل الا الطیب" [2] یعني الله تعالی هرومرو طیب (پاک) دی، نه قبلوي مګر پاک ځیز.

## ۱۵ _ ثنویه :

**په دې نوم د نومولو وجه :**

ثنویه ځکه په دې نوم ملقبه شوې ده، چې : دوی دوو ازلیینو اصحاب (ځېښتنان) دي چې هغه دوه ځیزونه نور او ظلمت دی ځکه چې دوی نور او ظلمت دواړه قدیم بولي.

**عقیده :**

---

[1]. الانعام / ۱۲۱

[2]. ان الله تعالی طیب یحب الطیب، نظیف یحب النطافة، کریم یحب الکرم جواد یحب الجود فنظفوا افتینکم و لا تشبهوا بالیهود (سیوطي جامع الصفیر ج ص **۲۳۵**) (هفتاد و سه ملت ص **۲۹**).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثنویه عقیده لري، چې نیکي او طاعت کول له خدای تعالی څنې دی، بدي او معصیت له شیطان او یا زمونږ له نفس څنې دی.

**دلیل :**

دلیل یې دا قول د خدای تعالی دی : "ما اصابک من حسنة فمن الله و ما اصابک من سیئة فمن نفسک" [1] یعنې کوم ښه چې درته رسیږي هغه له الله تعالی دي او څه بدي چې درته رسیږي هغه ستا له نفس څینې دي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : قدر د خیر او شر له الله تعالی څنې دي، یعنې نیکي او بدي له ده څخه دي، طاعت او معصیت د ده په تقدیر کې دي.

**دلیل :**

الله تعالی فرمایلي دي : "قل لن یاتینا الا ما کتب الله لنا" [2] یعنې ووایه : پر مونږ نه راځي مگر هغه چې الله تعالی مونږ ته لیکلي وي، نو خیر او شر کفر او اسلام، هدایت او ضلالت ټول له الله ذوالجلال دي، نو کفر او کافري د شیطان د وسوسو له امله وي او شیطان په هغه کار الله تعالی حواله کړی وي لکه چې فرمایلي یې دي : "انا ارسلنا الشیاطین علی الکافرین تؤزهم ازاً" [3] یعنې مونږ شیطانان کفارو ته لیږلي دي.

---

[1]. النساء / ۸۱.

[2]. التوبه / ۵۱.

[3]. مریم / ۸۵.



www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۲_ اتحادیه :

**د نوم وجه :**

د دې لپاره چې د (اتحادیه) فرقه د ډېر زهد او تقوی له کبله د خدای او بنده یو کېدلو عقیده لري ځکه ورته اتحادیه وايي.

**عقیده :**

اتحادیه فرقه عقیده لري، چې د انسان روح د معرفت په نور منور او صفا شي، خدايي او بندګي له منځه لاړه شي، خدای او بنده دواړه یو شي.

**دلیل :**

اتحادیه په دې معنا، چې هغه شهود د هغه مطلق واحد حق وجود دی، چې د کل په ډول موجود دی نو ټول په ده پورې متحد کېږي. له دې حیث چې ټول شیزونه په خپل نفس کې متعدد او په ده پورې موجود دی نه له دې حیث چې : د ده خاص وجود دی او دا شیزونه ورپورې متحد دي ځکه چې دا ډول اتحاد محال دی. [1]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : که اوسپنه اور کې واچول شي که هر څو سوروالی او توروالی ترې لاړ شي سوزیدل او ویلي کیدل په کې راشي بیا هم وسپنه یو شیز دی او اور بل شیز دی. اتحادیې ترمنځ نه راځي، یا یې اتحاد ترمنځ منع وي یا یې یو له منځه لاړ شي او بل یې وي او یا یې دواړه له منځه لاړ شي. له اتحاد یې دریم شیز منځ ته راشي. په هر صورت بنفسه متعدد او یو د بل وجود پورې شته والي ته د اتحاد نوم

---

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۳۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلا حیثیت لري.[۱]

## ۱۷_ تناسخیه :

**د نوم وجه:**

په یوه بدن پورې د روح تعلق نیولو ته وایي، چې د روح او جسد ترمنځ د ذاتي تعشق او تعلقاتو له مخې ثرنګه، چې تناسخ وروسته له مفارقت په بل بدن کې بې له کومې فاصلې صورت نیسي او د تناسخیه فرقې په عقیده کې دغه صورت وجود لري، چې مخې ته به راشي له دې کبله ورته تناسخیه لقب وضع شوی دی.

**عقیده :**

تناسخیه فرقه عقیده لري، چې د مړي روح د ده په مناسب حال صورت کې ننوځي که نیک وي نو روح یې په جمال او حسن کمال لرونکي صورت پورې تعلق نیسي، چې خوشحاله او خلکو کې عزیز وي، د دوی په نزد همدا جنت دی او که څوک عاصي او بدکار وي روح یې په بد، قبیح او مکروه صورت کې ننوځي، په دنیا کې به ذلیل، خوار، بدبخت او نامراد وي او د دې طائفې په مذهب همدا دوزخ لرونکی وي سا یې په همدا ډول ثاروي کې ځای نیسي او که نیک خویه او فرښته صفته وي نو روح یې په بل داسې صورت کې ننوځي، چې ښکلی په مراد رسیدلی وي څو د خپل عمل مکافات وګوري او همدارنګه د باچا، یا نورو معتبرو خلکو تنعم او راحت او ارام ژوند، چې لیدل کیږي، دا د دوی د هغه عمل مکافات دی، چې د مخه تر دې یې په کوم

---

۱. هفتاد و سه ملت ص ۳۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدن کې رياضت او مجاهدت کړی وي او ښه بندګي يې کړې وي.

**دليل :**

د تناسخه فرقې دليل دا قول د خدای تعالی دی : "و ما من دابة فی الارض و طائر يطير بجناحيه الا امم امثالکم" [1]

او دا حديث شريف : قال النبی عليه السلام : "يحشر الناس علی القردة و الخنازير" [2] يعنې خلک د شاديانو او د خنزيرانو په څېره محشوريږي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي دا مذهب باطل دی کوم اصل نه لري که نه د هر چا به په ياد و، چې د مخه تر دې يې روح په کوم ډول صورت کې و، څه يې کول، بل دا، چې خدای تعالی قادر دی، چې هر صورت پيدا کوي هغه ته نوی روح ورکړي، څه حاجت دی، چې روحونه په قالبو کې ننباسي.

د اهل سنت او جماعت د تناسخيه فرقې د پورتنيو عقايدو توجيه داسې شوې ده، چې د صورت تبديلي به د قيامت په ورځ وي.

**دليل :**

د اهل سنت او جماعت دليل دا قول د خدای تعالی دی : "يوم تبلی السرائر فماله من قوة و لا ناصر" [3] يعنې په هغه ورځ، چې پټ څيزونه ښکاره شي نو هيڅ قوه او ناصر به ورته نه وي او په دنيا کې نسخ،

---

[1]. الانعام / ۳۸ يعنې کوم خوزيدونکی او په دواړو وزرو الوتونکي نشته مګر د تاسو په شان ملتونه دي.

[2]. رک : wensinck, t, ۱۱, p ۸۲.

[3]. الطارق / ۹، ۱۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسخ، رسخ او فسخ نشته ده.[۱]

## ۱۸_ متصلیه :

**د نوم وجه:**

متصلیه فرقه ځکه په دې نوم نومول شوې ده، چې دوی د خدای تعالی او د عالم (مخلوقاتو) د اتصال عقیده لري.

**عقیده :**

متصلیه فرقه عقیده لري، چې خدای تعالی له عالم سره داسې متصل دی لکه اوبه چې ونې سره په ولیو، پاڼو، خانبو او نورو برخو کې متصلې وي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت دا عقیده ردوي وايي داسې عقیده جواز نه لري ځکه چې دا ډول وصف مخلوقاتو کې وي او الله تعالی ترې منزه دی.[۲]

---

۱. فلاسفه وايي نسخ څلور ډوله ده : نسخ، مسخ، رسخ او فسخ.

۱_ نسخ : په اجسامو، انسانانو کې وي.

۲_ مسخ : په څارویو، بوده وو، مرغانو او ساکښو کې وي.

۳_ فسخ : د ځمکې او اوبو په خزنده وو، حشراتو کې وي. لکه : مار، لړم، کشف، چنګاښ او نور.

۴_ رسخ : د ونو او نباتاتو په ډولونو کې وي.

دوی وايي : انسان په دې څلور ډولو د خپلو درجو او مراتبو په اندازه مسخ کړی او همېشه له یوه جسد بل جسد ته ګرځي، دوی وايي رییس د دې قوم انبیاء او رسولان دي او وايي : عالم ګرځېدونکی د ورکوونکی دی، غیر له دنیا بل سرای نشته، حشر او نشر او قیامت و حساب او جنت ټول محال بولي. (هفتاد و سه ملت ص/ ۳۲).

۲. هفتاد و سه ملت ص ۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۹_ منفصلیه :

**د نوم وجه:**

دا فرقه په خلاف د متصلیه خدای تعالی له عالم منفصل ګڼي ځکه ورته منفصلیه وايي او دا لقب ورته کېښودل شوی دی.

**عقیده :**

منفصلیه طائفه عقیده لري، چې خدای تعالی عالم (مخلوق) سره متصل نه دیله ټولو موجوداتو مبرا او منفصل دی په هیڅ ډول اتصال ورسره نه لري.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي: خدای تعالی له عالم سره نه متصل دی او نه منفصل او نه دننه په عالم کې دی او نه د باندې له عالم دی او د مرۍ له غټو رګو نږدې دی. [۱]

www.melitahrik.com 0777 400 116

# ۲۰_ حدودیه :

**د نوم وجه:**

دا نوم د دوی له عقیدې سره موافق وربانديې کېښودل شوی دی، چې عقیده یې لاندې مخې ته راځي ورته وګورئ.

**عقیده :**

حدودیه فرقه عقیده لري، چې د وحې له انقطاع وروسته موږ هیڅوا ته کافر یا مومن نه شو ویلی که څه هم زاهد، عابد، قایم اللیل او صائم النهار وي.

---

۱. هفتاد و سه ملت ص ۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دليل :**

ثرنگه، چې د وحي دروازه بنده ده هیڅا ته هم د چا خبر نشته دی.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : حکم په ظاهر الحال کيږي.

**دليل :**

حديث شريف دی : "نحن نحکم بالظاهر والله يتولى السرائر" [1] يعنې مونږ په ظاهر حکم کوو او د پټو سرائرو څښتن الله تعالی دی. د مؤمن نښې دا دي، چې په وعده وفا کوي، رښتيا وايي، امانت کې خيانت نه کوي، دا مطالب د حديث شريف مضمون دی، چې اتفاق وربانديې شوی دی او داسې پېل کيږي (المؤمن، من انجاز وعده ...) مومن هغه دی، چې په وعده وفا کوي...

## ۲۱_ فارقيه :

**د نوم وجه :**

فارقيه طائفه ايمان او علم يو بل نه جلا ګڼي ځکه ورته فارقيه لقب وضع شوی دی.

**عقيده :**

فارقيه وايي : علم غير له ايمان او ايمان غير له علم دی د دوی په نزد کېدای شي چې يو څوک ايمان ولري او علم ونه لري يا څوک علم ولري او ايمان ونه لري ځکه چې په لاندې ذکر شوي مبارک ايت کې معطوف عليه (مالکتاب)غير له عطف (ولا ايمان) ګڼي.

---

[1]. تبصرة العوام ص ۱۳۸، احياء العلوم غزالي ج ص ۱۵۱ (هفتاد و سه ملت ص ۳۲)

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دلیل :**

د دې فرقې دلیل دا دی، چې الله تعالی فرمایلي دي : "ما کنت تدری ما الکتاب ولا الایمان" [1] د دوی په نزد کېدای شي یو څوک علم ولري او ایمان ونه لري یا ایمان ولري او علم ونه لري ځکه چې دوی په پاسني مبارک آیت کې یې له (کتاب) (علم) مراد کړی او د (ماالکتاب ولا الایمان) جمله کې معطوف غیر له معطوف علیه ګڼي.

اهل سنت او جماعت :

اهل سنت او جماعت وایي : په ذکر شوي ایت کې عطف د بعضي دی په کل باندې چې ایمان بعضي دی له کتاب ځنې نو هر چېرته چې علم وي په یقین سره ایمان هم ورسره وي خو دا چې لازم نه دي، چې وجود د بعضي سره وجود د کل دې هم وي له دې امله لازم نه دی، چې ایمان لرونکی دې علم هم ولري، او ذکر شوی ایت کې د ایمان افراد چې پسې له کتاب ذکر شوي دي هغه د ایمان د فضیلت لپاره دی. لکه دې ایت کې (من کان عدواً لله و ملئکته و رسله وجبریل و میکال) د جبریل او مېکائیل جلاوالی له ملائکو د ایمان د فضیلت لپاره دی.

## ۲۲_ منکریه :

**د نوم وجه :**

دغه فرقه له شفاعت منکره ده ځکه ورته منکریه وایي، بنایي د دې طایفې نوم (میلیه) وي چې قیامت کې له شفاعت مکنر دی وایي :

---

[1]. الشوری / ۵۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شفاعت (میل) دې او میل په قیامت کې نه وي. [۱]

**عقیده :**

منکریه وایي : د قیامت په ورځ به شفاعت نه وي ځکه چې ګنهګار مستحق د سزا دی که خدای تعالی د چا شفاعت ورته قبول کړي جور او میل ثابتیږي او دا معنی خدای تعالی ته روانه ده.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : شفاعت حق دی او د هغه چا شفاعت کیږي، چې په هغه کې یې رضا وي.

**دلیل :**

الله تعالی فرمایلي دي : "ولا یشفعون الا لمن ارتضی" [۲] یعني شفاعت نه کوي مګر د هغه چا چې د شفاعت رضا یې ورته شوی وي.

## ۲۳ _ شیطانیه

**د نوم وجه :**

شیطانیه فرقه عقیده لري، چې خدای تعالی شیطان نه دی پیدا کړی.

**دلیل :**

شیطانیه ډله د خپلې عقیدې دلیل داسې وړاندې کوي : خدای تعالی شیطان نه دی پیدا کړی ځکه چې که ووایو چې خدای تعالی شیطان پیدا کړی دی نو لازمیږي، چې خدای تعالی په کفر د کافرانو او معصیت د ګناه ګارانو راضي دی. (العیاذ بالله) حال دا چې : خدای

[۱]. الفرق المفترقه ص ۹۲ (هفتاد و سه ملت ص ۳۳).

[۲]. الانبیاء / ۲۸-۲۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی د چا په کفر راضي نه دی لکه چې فرمايلي يې دي:
"ولا يرضی لعباده الکفر" [1] يعنې خدای تعالی د خپلو بندگانو په کفر راضي نه دی.

**اهل سنت او جماعت:**

اهل سنت او جماعت وايي: د شيطانيه وو دا عقيده، چې خدای تعالی شيطان نه دی پيدا کړی موجه نه ده؛ ځکه چې له يوې خوا که ذکر شوی ايت داسې توجيه شي چې: شيطان په خپله وجود نه لري بې مسمی او بې معمی په خبر لفظ دی لکه چې د سيمرغ نوم شته او د ده نښه هم نه شته او په دې سړی کفر ته ووځي ځکه چې خدای تعالی په قرآن کريم کې ډېر ځلې شيطان ياد کړی، چې داسې يې وويل او داسې يې وکړل نو انکار ورنه کفر دی. له بلې خوا که داسې توجيه شي چې: شيطان موجود دی او په خپله منځته راغلی، خدای تعالی نه دی پيدا کړی نو لازميږي چې خدای تعالی دې په خپله پادشاهۍ او وحدانيت کې شريک کړي او دا هم کفر دی او گمراهي او احمقي او جهالت دی.

## ۲۴_ معتزليه

**د نوم وجه:**

معزليه د واصل بن عطا البصري پيروان دي، دی لومړی د عبدالله بن محمد الحنفيه شاگرد و ځکه ورته (حنفيه) هم وايي، د دې لپاره چې د عبدالملک بن مروان په وخت کې يې حسن بصري نه هم تحصيل کاوه. يوه ورځ ځوک حسن بصري ته ورغی ورته يې وويل: يوه ډله خوارج د

---

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۱۰۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کبایرو مرتکب کافر بولي او بله ډله مرجئه کبیره ګناه د ایمان مبطله نه بولي د چا خبره صحیح ده؟ واصل د مخه تر هغه چې حسن خبره وکړي د پوښتنې کوونکي په ځواب کې وویل : زه د کبیره ګناه مرتکب ته مطلق مؤمن نه وایم او مطلق کافر یې هم نه ګڼم. دی د کفر او ایمان ترمنځه دی فاسق دی او جیګ شو د درس له مجلس ووت د مسجد ستنې ته یې شا ولګوله څه یې چې د هغه سړي په ځواب کې ویلي و په هغې خبرې ودرید. حسن وویل : اعتزل عنا واصل یعني واصل له مونږ ګوښه شو. له هغه وخته د معتزلیه نوم دوی ته پاتې شو نو د واصل پیروانو ته معتزلیه وايي.[1] دوی چې د بنده افعال ورته نسبتوي او ځانو ته یې د (اصحاب عدل و التوحید) لقب ورکړی دی.[2]

**عقیده :**

معتزلیه عقیده لري چې خیر د خدای تعالی تقدیر باندې وي او شر یې په تقدیر سره نه وي ځکه که شر د ده په تقدیر وي نو بنده څه ملامتي لري، چې په عذاب اخته کیږي؟ نو که عذاب ورکولی شي ظلم او بې عدالتي به وي. حال دا چې خدای تعالی له ظلم او بې عدالتۍ پاک دی. دوی په وجوب اصلح او نفي د صفاتو د قدم په نفي قول کوي، قدم خاص د خدای تعالی وصف بولي د نورو صفاتو قدم یې نفي کوي، کلام یې مخلوق او محدث ګڼي، وايي دی په آخرت کې هم نه لیدل کیږي، حسن او قبح عقلي بولي او په خدای تعالی خپلو افعالو کې د حکمت او مصلحت رعایت، مطیع او تائب ته ثواب او کبیره ګناه

---

[1]ـ هفتاد و سه ملت ص ۱۰۰.

[2]ـ هفتاد و سه فرقه ص ۱۰۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکو ته عذاب واجب ګڼي.[1]

**دليل :**

الله تعالى فرمايلي دي : و ما ربک بظلام للعبيد.[2]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي خداى تعالى ته جائز دي چې په خپل ملک کې هر ډول تصرف کوي او د مالک تصرف په خپل ملک کې ظلم نه ګڼل کيږي، ځکه آسمانونه او څه چې په کې دي ټول د خداى تعالى په ملکيت کې دي هيڅوک ورسره شرکت په کې نه لري.

**دليل :**

الله تعالى فرمايلي دي : په ځمکه او آسمانونو کې هر څه د الله تعالى دي څه چې په نفسو کې پټوي يا يې ښکاره ګرندوي الله تعالى به په هغو ورسره حساب وکړي.

## ۲۵_ کيسانيه

**د نوم وجه:**

دوى په کيسانيه ځکه ملقب شوي دي، چې دوى د (کيسان) ملګري دي او کيسان د علي رضي الله عنه غلام و چې له محمد بن الحنيفه بن علي بن ابي طالب يې علوم زده کړي و دوى څلور ډلې دي : مختاريه، هاشميه، بيانيه، رزاميه.[3]

---

١_ سرح مواقف ص ٢٥٢ (هفتاد و سه ملت ص ٣۴)

٢_ فصلت / ۴٦. يعني خداى تعالى په بندګانو ظلم کوونکى نه دى.

٣_ هفتاد و سه ملت ص ١١٣ – مختاريه : د مختار بن ابو عبيد ثقفي پيروان دي چې د مخه تر هغه د عبدالله بن زبير پيروان و پس له هغه شيعې او کيساني شول، د محمد بن حنفيه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عقیده :**

کیسانیه عقیده لري، چې وایي : نه پوهیږو دا افعال اقوال زمونږ دي که له خدای تعالی دي او نه پوهیږو چې عاقبت د بندگانو ثواب دی که عذاب؟

**دلیل :**

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : اقوال او افعال انسان کوي او خالق یې الله تعالی دی.

**دلیل:**

الله تعالی فرمایلي دي: ((والله خلقکم و ماتعلمون)) [1] یعني الله تعالی

---

امامت ته یې دعوت کاو، د حسین رض قاتلانو او د هغو له ملگرو یې کربلا کې غچ واخیست او اکثره یې ووژل اخر ته په خپله د مصعب بن زبیر په لاس ووژل شو. هاشمیه : د ابو هاشم محمد بن الحنفیه اتباع دي، چې شام کې تېر شوی دی او د محمد بن علي عبدالله بن عباس فرقه یې خپل جانشین کړی دی. رزامیه : د رزام بن رزم اتباع دي، چې ویل یې امامت له علي رضي الله عنه محمد بن حنفیه ته ورسید او له هغه یې زوی ابو هاشم ته او له هغه علي بن عبدالله بن عباس ته په وصیت د ابو هاشم رسیدلی دی. اوس له علي د هغه زوی محمد ته او پس له زوی یې ابراهیم ملقب په امام ته رسیدلی او امام شوی دی، چې ابو مسلم خراساني خلق ده ته دعوتول، دغه فرقه پس له ابراهیم، ابو مسلم امام گڼي او وایي چې د خدای روح په ده کې حلول کړی دی. (هفتاد و سه ملت ص ۱۱۴). بیانیه : د بیان بن سمعان اتباع دي. ده دعوی کړې وه چې امامت له ابوهاشم ده ته پاتې دی، دی په تشبیه، تناسخ او حلول قایل و، ویل یې الهي جزء د علي رضي الله عنه په جسد کې حلول کړی دی، چې په دغه قوت په غیب عالم او د خیبر دروازې په وبستلو موفق شو. بیا یې دعوی کړې ده چې هغه الهي جزء په خپله ده (بیان) کې هم حلول کړی دی او د الوهیت مقام ته رسیدلی دی. د دغو خبرو په سر بالاخره خالد بن عبدالله بن یزید القسری بیان وواژه. (هفتاد و سه ملت ص ۱۱۴).

[1] ـ الصافات / ۹۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې پیدا کړي یې او پیدا کړي یې دي عملونه ستاسو.

## ۲۲_ وهمیه

**د نوم وجه:**

وهمیات هغه کاذبې قضایا دي چې په غیر محسوسو امورو کې په هغو وهم حکم کوي لکه حکم پردی چې له عالم ما وراء لا یتناهي قضا ده او له دې جوړ شوي قیاس ته سفسطه وایي.[1] له دې کبله دوی ته وهمیه وایي.

**عقیده:**

د وهمیه وو عقیده ده، چې: د انسانانو اقوال او افعال عارضي دي، ذات او بقا نه لري، نو گفتار او کردار یې وهم دی او وهم حساب او کتاب نه لري او د ثواب او عقاب تصور په وهم جهل دی.

**دلیل:**

کوم دلیل یې په نظر رانه غی.

**اهل سنت او جماعت:**

اهل سنت او جماعت وایي: له حساب او کتاب انکار کفر دی.

**دلیل:**

خدای تعالی فرمایلي دي: ((و اما من اوتی کتابه بیمینه یحاسب حسابا یسیراً))[2] یعني او هر چا ته چې عملنامه یې په ښي لاس ورکړ

---

[1]_ هفتاد و سه ملت ص ۳۵.

[2]_ الانشقاق / ۷،۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي اسانه حساب به ورسره وشي، نو په دې ایت چې حساب او کتاب ثابت دی ځکه یې انکار کفر دی.

# ۲۷_ بکریه

**د نوم وجه:**

ځرنګه چې د بکریه فکر د بکر بن اخت عبدالواحد بن زید (زیاد) اتباع دي، چې د جبریه له فرقو وو ځکه ورته بکریه وایي.[۱]

**عقیده:**

بکریه فرقه عقیده لري، چې: څوک زیات علم وکړي په تدریسي څېړنو او مطالعه بوخت وي، د علم د حصول لپاره نو د عبادت تکلیف ورباندې نشته او د خپل ضرورت په اندازه د خلکو په مال کې شریک دي، هر څوک چې منع کوي ظالم دي ځکه چې علماء خپل عمر د شرعي علومو په زده کولو کې تېر کړي دی او د نبوت میراث یې ترلاسه کړی دی. که د مال په حاصلولو کې یې عمر تېر کړی وای. ټول جهان به جهل نیولی وای او شرعي علوم به له منځه تللي وای او نړۍ به کفر نیولې وه نو علماوو چې محمدي دین اقامه کړی د دوی کفاف په امت لازم او واجب دي.

**اهل سنت او جماعت:**

اهل سنت او جماعت وایي: د هر چا چې علم زیاد شي باید لا ډېر عبادت او ریاضت وکړي، ځکه چې علم د وېرې او تواضع سبب دی.

**دلیل:**

---

[۱]_ هفتاد و سه ملت ص ۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی فرمایلي دي: ((انما یخشی الله من عباده العلماء))[۱] یعني همدا خبره ده چې له خدای تعالی علما وېرېږي، دا فرقه په دې تلاوت شوي ایت کې (الله) په رفع او (علماء) په نصب وایي او (یخشی) د تعظیم په معنی اخلي.

## ۲۸_ راونديه

راونديه فرقه د (هفتاد و سه ملت) کتاب ص ۳۲ کې د ملحد معتزلی ابن الراوندي پیروان بلل ځکه ورته (راونديه) ویل کیږي.

**عقاید:**

راونديه فرقه عقیده لري، چې په ټولو آسماني کتابو او صحیفو عمل کول حق دی، باید ونه وایو چې منسوخ دي.

**دلیل:**

دلیل یې دا دی، چې: دوی وایي نسخ د ندامت نښه ده، لکه چې خدای تعالی حکم کړی وي بیا پرې پښېمانه شوی وي او منسوخ کړی یې وي یا دا چې یو ځلې یې حکم کړی وي بیا پوه شوی وي، چې هغه کې مصلحت نشته او منسوخ کړی یې وي نو په دې ټولو دولو معنا کول او توجیه کول نه ښایي نو ثابته ده، چې ټول آسماني کتابونه او صحیفې د خدای تعالی کلام دی او حکم یې پرځای دی.

**اهل سنت او جماعت:**

اهل سنت او جماعت وایي: د خدای تعالی احکام د بنده ګانو د مصالحو تابع دی، پخواني کتابونه پخوانیو امتو ته او د محمد صلی

---

[۱]_ الفاطر/ ۲۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله علیه وسلم امت مصلحت د قرآن په حکمونو کې اراده شوی دی لکه شپه چې راشي تیاره شي. سپوږمۍ، ستوری (زهره، مشتري، عطارد) او نور هر یو ستوری جلا جلا ښکلا او خصوصیات او حکمونه لري خو لمر چې پرې راوخېژي ورځ شي د هر ستوري دولت سرته ورسیږي او د لمر دولت پیل شي دا رنګه هر رسول په خپل وخت کې د آسمان د ستوري په څېر و خو چې د محمد صلی الله علیه وسلم د رسالت لمر راوخوت د ټولو پخوانیو شرایعو په ځای چې قرآن مجید نازل شو او په پخوانیو شرایعو یې شمولیت درلود له دې امله پخواني آسماني کتابونه او صحیفې یې منسوخ کړې او له هغې غوره، بې تحریفه احکام قرآن کریم کې راغلل.

**دلیل :**

خدای تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي (وما ننسخ من آیة او ننسها نات بخیر منها او مثلها)[1] یعني هغه آیت له ایاتو چې منسوخوو او یا یې هېروو تر هغه غوره یا په مثل د هغه راوړو.

## ۲۹_ مشبهه

**د نوم وجه:**

دې فرقې ته د دې لپاره مشبهه وایي چې دوی الله تعالی مخلوقاتو سره تشبیه کوي ځینې د دې فرقې شیعه وو کې غلاة مشبه دي لکه سبئیه، بیانیه و مغیریه چې په تجسیم، حرکه، انتقال او اجسامو کې په حلول

[1]. البقره / ۱۰۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قایل دي. (شرح مواقف ص **۲۹۴**) [۱]

**عقیده :**

مشبهه عقیده لري، چې خدای تعالی د انسان غوندې ښکلې بڼه لري، د عرش په قبله ناست دی، او د عرش ملکې له عرش ګرد چاپېره ورته صف په صف ولاړې دي.

**دلیل :**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : ان الله تعالی خلق ادم علی صورته. (سیوطي جامع الصغیر، ج۱ ، ص **۵۳۲**) [۲] یعنې خدای تعالی ادم په خپله بڼه پیدا کړی دی.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي د مشبه عقیده سمه او ټیک نه ده او دلایل یې ردوي.

**دلیل :**

د اهل سنت او جماعت دلایل داسې دي چې وایي په ذکر شوي حدیث کې د (صورت) ضمیر ادم ته راجع دی معنی یې داسې کیږي چې : ادم یې د ادم په صورت پیدا کړ نه د بل څیز په صورت، د دې لپاره چې مخکې د ادم له پیدا ایښت د ادم په شکل څوک نه وو او نه یې د مثل او مشابه تصور کیده. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي : ((لیس کمثله شیء و هو السمیع البصیر)) د ده په مثل یو شی هم نشته او همدی بڼه

---

[۱]. هفتاد و سه ملت / ص ۳۸.

[۲]. همدا مرجع ص **۳۹** داسې هم روایت شوی دی : خلق الله ادم علی صورته و طوله ستون ذراعاً الخ (سیوطي جامع الصغیر ج۱ ص**۵۳۲**)

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوریدونکی او لیدونکی دی.

## ۳۰_ جهمیه

**د نوم وجه:**

جهمیه په دې نوم د دې لپاره نومول شوی دی، چې دوی د جهم بن صفوان پیروان دي چې په ۱۲۸ هـ کې نصر بن سیار له سردارانو څخه د سلم بن احوزمازنی د خراسان فرمانفرما په لاس ووژل شو. (اک، تاریخ مذاهب اسلام ص ۲۱۲)[1]

**عقیده :**

دوی عقیده لري چې: څه شي ته د بني ادم وهم رسیږي او فهم یې چې د هر څه ادراک کوي هغه مخلوق وي او خدای تعالی په وهم کې نه راځي نو هر څوک چې د خدای تعالی د پېژندنې په برخه کې وایي چې ما ته معرفت د الله حاصل دی د جهمیه وو په نزد کافر دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

**دلیل :**

د دوی دلیل دا حدیث شریف دی: ... کل الناس فی ذات الله حمقی)[2]
یعني ټول بني آدم د خدای تعالی د ذات په پیژندنه کې احمق او ناپوه دي.

**اهل سنت او جماعت :**

---

[1]. هفتاد و سه ملت، ص ۳۹.
[2]. الفرقان / ۴۷، الم تر الی ربک کیف مدالظل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي : مسلماً خدای تعالی په وهم، فهم او عقل کې نه راځي خو که بنده وغواړي چې هغه ومومي له انوارو يې يو نور په عقل وپېژني.

**دليل :**

((الله نور السموات والارض، والله لو لا ماهتدينا)) يعنې الله تعالی د ځمکې او اسمانو نور (رڼا) ده او که د الله تعالی هدايت نه وې مونږ به هدايت نه وای موندلای.

**د جهميه وو د دليل رد :**

که څوک ووايي چې هر څيز ته د انسان فهم ورسيږي هغه مخلوق وي نو هيڅ عاقل ته به دليل نه وي چې ذات د خدای تعالی ثابت کړي حال دا چې الله تعالی فرمايلي دي : ((الم تر کيف مد الظل)) [1] يعنې ودې نه ليده چې څرنګه يې سوری اوږد کړی دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

---

[1]. المؤمنون / ۱۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳۱_ زنادقیه

**د نوم وجه:**

په دې نوم ځکه نومول شوی دی، چې د زندقانو عقیده لري.

**عقیده :**

دوی عقیده لري چې دڅه شي ادراک چې نه کیږي هغه خدای نه دی او څوک چې په کې خبرې کوي هغه یې خپل خیالات دي.

**دلیل :**

دلیل یې ونه لیدل شو.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : د دې کلمو د باطن سر کفر ته رسیږي، خامخا زندیق په ظاهر مسلمان او په باطن کافر وي.

دلیل :

په هره زمانه کې یو شمېر بنې ادم وي چې له کاهلۍ یې بې دینې خوښه کړې وي او له هر څه منکر وي، د قرامطه، زنادقه او بااختیانو خبره د صانع (خدای تعالی) په نفي کې سره یوه ده (بیان الادیان ص ۲۱) اک، الفرق المفترقه ص **۹۵**) [1]

# ۳۲_ مترفیه

**د نوم وجه:**

مترف په لغت کې په ناز او نعمت روزلې او پالل شوي ته وایې، دغه ډله هم چې ځانونه د خدای تعالی مېلمانه او د پالنې مستحق ګڼې ځکه

---

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۴۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته (مترفيه) وايي. عرب وايي : ترف : يعني په نعمتو او ارامۍ يې ژوند وکړ. (منتهي الارب) [1]

**عقيده :**

مترفيه عقيده لري چې : بني ادم دد نيا كور ته په دعوت كې مېلمانه دي، دنيا له شرق تر غرب پورې د خداى تعالى مېلمستون دى. د نعمتو دسترخوان يې پرې غوړولى دى او ټولو مخلوقاتو ته پرې روزي حواله شوې ده. روزي وربانديې خوري، لكه چې لوخ راغلي لوخ ورنه ځي، ټول د خداى تعالى ميلمانه دي، نو دا لرې خبرې دي چې د نعمتو حساب يا عتاب وكړي.

**دليل :**

د مترفيه وو دليل دا حديث دى : ((الناس اضياف الله تعالى)) [2] يعني بني ادم د خداى تعالى ميلمانه دي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : څوک چې د خداى تعالى د نعمتو شكر او رعايت ونه كړي هرو مرو عتاب لاندې راځي. حلالو باندې حساب او حرامو باندې عذاب وي او په قيامت كې د نعمتو له خوندونو پوښتنه كيږي.

**دليل :**

الله تعالى فرمايلي دي : ((ثم لتسئلن يومئذٍ عن النعيم)) [3] يعني بيا به

---

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۴۰.
[2]. هفتاد و سه ملت ص ۴۰.
[3]. التكاثر / ۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قیامت کې هرو مرو د نعمتونو په هکله وپوښتیدل شئ.

## ۳۳_ ملاحده

**د نوم وجه:**

ملاحده لقب دی چې اسماعیلیه وو ته مخالفانو ورکړی پوره تفصیل یې د جوینی جهان کشای تاریخ دریم جلد کې راغلی چې اصلاً ملاحده څوک دي او د الحاد مذهب له کوم ځای پیدا شو، په دې کتاب یې مرحوم قزویني تصحیح کړې ده. (الفرق الفترقه من ۱۰۰) [۱]

**عقیده :**

ملاحده وایي : انسان له نطفې او نطفه له وینې او وینه له حیواني او نباتي خوراکونو منځته راغلې ده او د حیوان اصل له نبات او د نبات اصل له خاورو، باد، اوبوا و اور دی، چې د انسان په وجود کې یې څلور طبع (یخني، ګرمي، لوندوالی او وچوالی (خوشکي او تري) منځته راوړی دی او تر څو چې د دې طبایعو ترمنځ د مزاج اعتدال وي سلامتیا او ژوند باقي وي او کله چې فساد په کې پیدا شي هلاک او معدوم شي او د معدوم اعاده محال ده نو له قیامت، حشر او نشر، جنت او دوزخ انکار کوي (نعوذ بالله من ذلک).

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : طبایع او ارکان تدبیر دي او ټول تقدیر ته تسخیر دي، د پنځو حواسو پیدا کوونکی خدای تعالی دی، د شپږو

---

[۱]. هفتاد و سه ملت ص ۴۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهتو جوړونکی خدای تعالی دی، اووه اسمانونه او اووه ځمکې يې پيدا کړي، ستوري او داسې نور عجايب يې ايجاد کړي دي، يوه ته يې داسې خطاب ونه کړ چې «وصورکم فاحسن صورکم» يعنې پيدا مې کړلئ نو ستاسې صورت مو ډېر ښه جوړ کړ، او ځانته يې ديوه موجود په پيدا کېدو داسې ثنا ونه ويله کومه چې د بني ادم په پيدا کيدلو يې داسې وويله: «فتبارک الله احسن الخالقين» [۱] يعنې مبارک دی الله چې ښه د پيدا کوونکو دی.

حاصل دا چې ملاحده فرقه ځان (جسد) او روح يو ګڼي داسې چې د يوه له هلاک د هغه بل د هلاک تصور کوي. حال دا چې روح عين ژوندی دی روح ته مرګ نه وي، روح لکه مرغه او قالب (جسد) لکه قفس داسې دی يا روح لکه توره او قالب يې لکه تېکې داسې دی د تيکي او قفس له ماتېدو د تورې او مرغه څه باک دی که قالب د اوبو او خاورو کور خراب شي روح بل کور ته نقل کوي لکه چې په حديث شريف کې راغلي :

«المؤمنون لا يموتون ولکن ينقلبون من دار الی دار» [۲] يعنې مؤمنان نه مري لکن له يوه کور بل کور ته اوړي، د ملاحده وو فرقه صورت ويني او له معنی خبر نه دي، د زړه سترګې يې نه دي غړيدلې لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: «فانها لا تعمی الابصار ولکن تعمی القلوب التی فی الصدور» [۳] يعنې نو خبره دا ده چې سترګې يې ړندې نه دي لکن

---

[۱]. المؤمن / ۶۴.

[۲]. مفتاح کنو السنة ص ۴۸۸.

[۳]. الحج / ۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونه يې چې سينو کې دي، نه ويني، دوی د بدن له فنا پسې د روح له بقا منکر دي، او حديث شريف کې راغلي دي ((و ليس الموت عدما حتی تظن انک اذا مت عدمت صفاتک ولکن يبقی الروح علی ما کان عليه من العلم والجهل)) [1] يعنې مرگ له منځه تلونکی نه دی څوک چې مړ شي جسماني صفات يې عدم کيږي لکن روح باقي پاتې کيږي. په هغه ډول چې که عالم و، له علم سره، او که جاهل و، له جهل سره مصاحب وي او روح د عالم او جاهل نه مري او فنا نه لري، او بل حديث شريف کې راغلي دي: ((ارواح الشهداء فی حواصل الطيور خضرٍ ترد انهار الجنة و بالليل ياوی الی قناديل تحت العرش)) [2] يعنې د شهداوو ارواح د شنو مرغانو په جوجورو کې وي د ورځې جنتو ته ځي او د شپې عرش لاندې قنديلونو ته ځي، او خدای تعالی فرمايلي دي: ((ولا تقولوا لمن يقتل فی سبيل الله اموات بل احياء و لکن لا تشعرون)) [3] يعنې څوک چې د خدای تعالی په لار کې ووژل شي هغو ته مړه مه وايئ بلکې ژوندي دي خو تاسې پرې شعور نه لرئ. په دې مبارک ايت کې الله تعالی نهي فرمايلې ده چې څوک د خدای په لار کې ووژل شي هغو ته مړه مه وايئ لکن دوی ژوندي دي خو تاسې پرې نه پوهيږئ.

## ۳۴_ منجميه

**د نوم وجه :** څرنگه چې د منجميه عقيده په ستورو ډېره ده ځکه ورته

---

[1]. تخريج يې تراوسه نه دی شوی.

[2]. Wensinck. T۱۱, p,۴۰۱۳۱۸۵

[3]. البقره / ۱۴۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منجمیه وایي.[۱]

**عقیده :**

منجمیه عقیده لري چې اووه ستوري پلارونه دي او څلور عناصر (خاورې، باد ، اوبه او اور) مورګانې دي، د دوی درې زامن دي (معادن، نبات او حیوانات) او د عالم هر څۀ (باد ، باران، یخني، ګرمي، فراخي، تنګي، فتنه، شور او شر، امن او امان، صحت او مرض، ژوند او مرګ له افلاک او ستورو صادریږي، د صورتو د جوړولو او ورانولو ، د اجتماع او افتراق نقاش او تمثال سوري دي. تثلیث[۲] ، تربیع[۳] ، تسدیس[۴] ، اوج[۵] ، حفیض او بروج چې ځیني خاکي دي او ځیني بادي، ځیني ابي (د اوبو) دي او ځیني اتشي (د اور) مذکر او مونث دي، او وایي: دغه افلاک او انجم طلسم دی پیدا کیږي او فنا کیږي، چې فنا شي بېرته نه راځي.

**دلیل :** دلیل یې ونه لیدل شو.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : د نجومیانو دغه نظر قاصر دی ځکه چې افلاک او ستوري طبایع او عناصر ټول خدای تعالی د (کن) په امر

---

[۱]. هفتاد و سه ملت ص ۴۳.

[۲]. یو ستوری د بل ستوري څلورم برج کې واقع کیدل چې د فلک ثلث دی تثلیث بولي. (همدا ذکر شوی مرجع ۴۳مخ)

[۳]. په څلورمې خانې د ستورو کتنه یو بل سره (ذکر شوې مرجع او مخ)

[۴]. د بل ستوري په دویم برج کې د کوم یوه ستوري واقع کیدل.

[۵]. اوج د حفیض ضد دی او هغه د ستوري لومړۍ درجې ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې په حرکت راوستي دي، ژرنده بې اوبو نه گرځي، شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ او ستوري د حق د امر منونکي او فرمان قبلوونکي دي لکه چې خدای تعالی فرمايلي دي: «و سخرلكم الليل و النهار والشمس و القمر و النجوم مسخرات بامره»[1] يعنې تاسو ته مې شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ او ستوري په خپل امر مسخر کړي دي.

## ۳۵_ وضعيه

**د نومولو وجه:**

**عقيده:**

دوی رسولان او انبياء د نړۍ د ېر بزرگان، عاقلان او زښت زيات پوهان او حکميان بولي، وايي چې هغوی په خلکو د شفقت لپاره قوانين او قاعدې وضع کړې نوم پرې شريعت کېښود، او ويې ويل چې دا د خدای تعالی کلام دی ترڅو چې د خلکو په زړو کې موثر ځای ونيسي، مگر د ځمکې او سيدونکي چېرته او اسمان چېرته چې دوی ته ترې پيغام راشي.

**دليل:**

ضعيه فرقه داسې دليل وړاندې کوي چې لمر اووه ځلې اووه زره فرسنگه په اووه زره فرسنگه کې دی او ځمکه د ژرندې له څو پلو د هغه په نسبت زياته نه ښکاري او همدارنگه د اسمان په څنگ کې هم ځمکه مختصره او وړه ده، اوس بايد قياس شي چې ادميانو ته څه وزن دی چې له اسمان ورته حکم راشي، امر او نهي معقول نه راځي او فهم کې

[1] النحل / ۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ځاییږي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي: د سترګي غړی ډېر وړکې او حقير دي، انسان دقدر قيمت او رای له مخې دواړه جهانه دي، په قدسي حديث کې راغلي دي : ((قال الله تعالی خلقت العالم لکم و خلقتکم لاجلی))[1] يعنې الله تعالی فرمايلي دي : عالم مې تاسو ته پيدا کړ او تاسې مې د ځان لپاره پيدا کړئ، بل دا چې : د قرآن مجيد فصاحت د عرپو بلغا ګونګيان کړل، د يوه سورت په يوه ايت يې ورسره معارضه وکړه ټولو د عجز سر د ناپوهۍ په ګريوان کې ښکته واچاو لکه چې فرمايلي يې دي : ((و ان کنتم فی ريب مما نزلنا علی عبدنا فاتوا بسورة من مثله ...))[2] يعنې که تاسې په هغه کتاب چې په خپل بنده مې نازل کړی شک کې ياستئ نو په مثل د هغه يو سورت راوړئ، او فرمايلي يې دي : ((فلياتوا بحديث مثله))[3] يعنې نو راوړئ په مثل د هغه يو خبره، ټول له مقابلې پاتې شول او محمد صلی الله عليه وسلم په ټولو اديانو چې د عالم په اوو اقليمو کې وو غالب شو، ناچاره ځينې مسلمانان شول او ځينو عاجزۍ نه جزيه ومنله او مؤمنانو ته يې پناه وروړه. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: ((ليظهره علی الدين کله و لو کره المشرکون))[4] يعنې چې په نورو ټولو اديانو ښرګند غالب شي که څه هم دا کار د

---

[1]. فتودات مکيه ج ۳ ص ۱۲۳.

[2]. البقره / ۲۱..

[3]. الطور/ ۳۴.

[4]. الصف / ۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرکانو بد ایسي، بل دا چې زیرک خلق قرآن کریم کې فکر کوي، د غیب خبرونه په کې زیات ویني لکه چې د روم له فتح مخکې دا سې زیری پیغمبر علیه السلام ته شوی (الم، غلبت الروم فی ادنی الارض)[1] همدارنگه نوح علیه السلام ته د مخه له طوفان وویل شول: (یاارض ابلغی ماءکِ و یا سماء اقلعی)[2] او د ابراهیم علیه السلام په حق کې یې فرمایلي دي: ((یا نار کونی برداً و سلام علی ابراهیم))[3] یعنې ای اوره یخ او سوړ شه او ابراهیم سلامت وساته. همدارنگه له موسی علیه السلام سره د ونې خبرې کول لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ((من الشجرة ان یا موسی انی انا الله رب العلمین))[4] یعنې له ونې موسی علیه السلام ته وویل شول: ای موسی ببشکه زه الله رب د عالمیانو یم، نو کوم حکیم له غیب دا ډول خبر ورکړی یا یې په دعا طوفان راوستی یا اور پرې گلستان شوی دی، یا کوم حکیم سره ونې خبرې کړې دي یا یې په همسا وهلو له تیږې چینې راخوټولي لکه چې فرمایلي یې دي ((قلنا اضرب بعصاک الحجر فانفجرت منه اثنتا عشرة عینا))[5] یعنې وویل مونږ (موسی ته) چې په امسا دې تیږه ووهه نو دولس چینې ترې جاري شوې. او کوم حکیم له ختې مرغه جوړ کړې دی لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ((و اذا تخلق من الطین کهیئة الطیر)) یعنې یاد کړه هغه وخت چې

---

[1]. الروم / ۱، ۲.
[2]. هود / ۴۲.
[3]. الانبیاء / ۶۹.
[4]. القصص / ۳۰.
[5]. المائده / ۱۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله يې د مرغه هيئت له ختو جوړ کړ، او کوم حکيم مورزادي ړوند بينا کړی او يا يې مړی ژوندی کړی دی. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: (و تبرئ الاکمه والابرص و تحی الموتی باذن الله) يعنې د الله تعالی په اذن مورزادی ړوند او د برګي (فس) ناروغ جوړوي او مړی ژوندی کوي او کوم حکيم په اسمان کې سپوږمۍ دوه نيمه کړې ده لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: ((اقتربت الساعة وانشق القمر))[1] يعنې د قيامت وخت او شپې رانږدې شوي او سپوږمۍ دوه نيمه شوه.

نو وضعيه فرقه د خپل قاصر عقل له مخې د رسالت او نبوت له درک محروم پاتې شوي دي، او د اولياوو کرامات د سکينه له نزول څخه وي چې د کامل مؤمن په زړه کې وي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: ((هوالذی انزل السکينة فی قلوب المؤمنين ليزدادوا ايماناً مع ايمانهم))[2] يعنې الله هغه ذات دی چې د مؤمنانو په زړو کې يې سکينه نازل کړې ده چې د دوی له ايمان سره ايمان زيات کړي.

## ۳۲_ فلاسفيه

**د نوم وجه:**

څرنګه چې د فلاسفه وو بحث د طبعي او الهي موجوداتو په برخه کې په منطقي پروګرامو کيږي او د اشياوو په تحقيق کې عقل باندې اکتفا وي، او د فلاسفيه معنی (د حکمت محبت) ده چې (فيلا) په يوناني ژبه محب او (سوفا) د حکمت معنی لري نو فلسفه (حکمت دوستی) ته

[1]. القمر / ۱.
[2]. الفتح / ۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي او د دوي عقيده په عقل او حکمت متکي ده ځکه يې لقب (فلاسفيه) شوی دی.[1]

**عقيده :**

فلاسفيه فرقه عقيده لري، چې حشر د ارواحو کيږي نه د اجسادو.[2]

---

[1]. هغسې چې فلسفه (حکمت دوستی) ته وايي (فيلسوف) د حکمت خوښوونکی او مينه وال ته وايي، دوی خپلو اراو کې زيات اختلاف لري، دوی په قديم قانع دی او د نقص ټول صفتونه لکه تشبيه، تحييز، جهت او نور صفات ورنه نفي کوي خو وايي : له ده بې واسطې يوه موضوع صادريږي (لا يصدر من الواحد الا الواحد) يعني له يو يو صادريږي او بس او د هغه تاثير په مصنوعاتو د ايجاب له لارې دی نه د اختيار له طريقې.

[2]. فلاسفه وايي علم درې ډول دی، د څه شي والی علم، د څرنګه والي علم، د څو والي علم:

۱ـ د څه شي والی علم د اشياوو څه شی والی غواړي، الهي علم دی.

۲ـ د څرنګه والي علم د اشياوو څرنګه والی غواړي او طبعي علم ورته وايي.

۳ـ د څووالي علم د اشياوو څووالی غواړي چې د رياضي علم ورته وايي. نو د الهي علم موضوع مطلق وجود دی او د وجود د احوال بحث له حيثه د دي کوي چې هغه وجود دی، او د طبعي علم موضوع جسم او بحث په احوال د جسم کې دی او د رياضي علم موضوع، ابعاد او مقادير دی او بحث د کميت او څووالي په احوال کوي، او د يونان فلاسفه او حکما څوک حاذق طبيبان دي او ځينې واثق منجمان دي.

سبعه حکما چې د حکمت ستنې دي دا دي : تالس ملطي، انکساغورس، انکيمانس، انباد قليس، فيثا عورث، سقراط، افلاطون. ځينو دغه کسان هم ورسره حساب کړي دي : (بياس، پيتاکوس، کلثوبول، ميسون، خيلون) دوی اکثره (رواقيان) وو د دوی فلسفه د وحدت الوجود يوه نوع ده خو جسماني نه روحاني په دې معنی چې غير له جسم په کوم وجود قايل نه وو، دوی ويل : قديم صانع عقل دی له عقل لوړ څه شی نشته، وايي نفسونه قديمي دي او د تناسخ په ډول له يوه بدن بل بدن ته انتقال کوي.

د اصول حکما: ځينې شاعران او ځينې عابدان متقيان دي خو عبادت يې شرعي نه دی او نومونه يې دا دي: فلوطرخيس، اکسنوفسانس، زينون، ديمقريطيس، هرقل (هرقليطوس)، ابيقوس، سولون شاعر، ميروس شاعر، سقراط، اقليدس، اکاډميا فلاسفه (اکادميا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دليل :**

فلاسفيه دليل راوړی چې د بني ادم جسد مرکب دی پس له مرگه يې هر جز خپل اصل ته ځي او لا يتجزی اجزاء شي، متلاشي شي، معدوم شي، نو اعاده د معدوم محال شي او روح نه متجزي کيږي ځکه چې ترکيب نه لري، نو نه فنا کيږي.

**اهل سنت او جماعت :**

---

يونان کې د يو باغ نوم و چې افلاطون په هغه کې تدريس کاوه)، بطليموس د مجمطي کتاب مؤلف، او اقليدس د هندسې واضع وه له دې طبقې رومي اسکندر، کلبي ديوجانس، شيخ اليوناني (هغه فلوطين يا افلاطون ثاني ديچې د اشراق د فلسفې مؤسس دی، ثاوفرسطيس، برقلس، ثامسطيوس، اسکندر افروديس، فرفوايوس وو. ثاوفرسطيس او برقلس د عالم په قدم کې شبه راوړې ده، ثامسطيوسې د ارسطو د کتابو شارح او دوی د مشائين فلاسفه وو، دوی د ارسطو غونډې د فلسفې تعليم په يوه گردش ځای کې چې (ليس) نوميده کړی او په دې ترځ کې به يې خپلو شاگردانو ته هم ښوونه کوله ځکه يې پيروانو ته مشاني وايي، دوی له عقل ماوراء بله مبداء ثابتوي او هغه اوله مبدا بولي او لومړنی علت يې گڼي، خو اکثره طبيعيان او مهندسان د صانع نفي کوي وايي مونږ له هگۍ مرغۍ ليدلې ده او مرغۍ مو له هگۍ، مونږ مني له بني ادم او بني ادم مو له مني ليدلی دی. دوی وايي تل داسې وو او همداسې به وي، دوی وايي : د عالم مدبر طبيعت دی، دوی وايي د بطليموس او جالينوس همدا مذهب و.

د اسلام حکما چې غالباً د افلاطون او ارسطو سره يې پيروي لرله دا کسان وو: يعقوب بن اسحق کندي، حنين بن اسحق، ابو معشر مقدسي، ابوبکر ثابت بن فره حراني، ابوزيد احمد بن سهل بلخي، احمد بن طيب سرخسي، ابو علي احمد بن محمد بن مسکويه او ابونصر محمد بن طرخان فارابی چې قائل شو په دې چې عقل محض صانع دی او شيخ الرئيس ابو علي حسين بن عبدالله سينا (تاريخ حکماء اسلام از ظهير الدين البيهقي متوفي ۵۲۵هـ طبع ۱۹۴۲ دمشق، اخبار العلماء سره له اخبار الحکماء تاليف د جمال الدين يوسف القنطي متوفي ۶۴۲ طبع ۱۳۲۲هـ مصر، نزهة الارواح و روضة الافراح فی تاريخ الحکماء و الفلاسفه تاليف شمس الدين محمد شهر زوري متوفي ۶۸۷هـ طبع – حيدر آباد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي چې: د وجود لا يتجزى اجزاء او ذرات چې د وجود په قالب کې د رب العالمين په امر جمع شوي وو بيا چې متمزق او متفرق شي دوباره يې جمع کيدل ډېر اسان وي، ممکن وي، محال نه وي، نو جواهر چې له نابودۍ پيدا کولای شي له شته والي خو يې لا ښه پيدا کولای شي.

**دليل :**

الله تعالى فرمايلي دي: ((من يحى العظام وهى رميم، قل يحييها الذى انشاها اول مره و هو بكل شىءٍ عليم))[1] يعنې څوک وراسته هډوکي ژوندي کوي؟ ورته ووايه! هغه يې ژوندي کوي، چې اول ځل يې پيدا کړل او دی په هر شي پوه دی.

## ۳۷_ کراميه

**د نوم وجه :** کراميه د ابي عبدالله محمد بن کرام پيرو دي او ځينې وايي چې: د کاف په کسر او د (ر) په تخفيف ويل کيږي. د دوی اقوال په تشبيه کې متعدد دي، دوی وايي چې الله په عرش دی له جهته د علو (ان الله على العرش من جهة العلو)، دوی وايي ايمان د منافق له کفر سره د انبياوو له ايمان سره مساوي دی. (شرح المواقف۲۹)

**عقيده :**

کراميه عقيده لري، چې: ايمان د ژبې اقرار دی چې وويل شي لا اله الا الله محمد رسول الله د زړه باور ته اړتيا نشته.

**اهل سنت او جماعت :**

---

[1] . يس / ۷۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي : د ژبې په اقرار وينه او مال په امان کيږي او د شرع توره يې له غاړې پورته کيږي خو چې د زړه تصديق، اعتقاد او يقين نه وي په دنيا کې به د مسلمانانو له جملې وي او په آخرت کې به کافرانو سره وي.

**دليل :**

الله تعالى فرمايلي دي : ((من يقول امنا بالله و باليوم الاخر و ما هم بمؤمنين))[1] يعني ځوک چې وايي ايمان مې په الله او د اخرت په ورځ راوړی حال دا چې دوی مؤمنان نه دی (ځکه چې د زړه باور او تصديق پرې نه لري).

## ۳۸_ خازميه

**د نوم وجه:**

خازميه (جازميه) د خازم (جازم اصحاب دي ځکه ورته (خازميه) وايي او په (ح) يې ټکی ورته زيات کړی (خازميه) ترې جوړ شوی دی.(۱)

**عقيده :**

خازميه فرقه عقيده لري چې : ايمان مجهول دی، ځوک نه پوهيږي چې ايمان څه شی دی ځکه چې د ايمان تعريف په ايمان شوی دی. داسې چې : (الايمان ان نومن بالله و ملائکته و کتبه و رسله و باليوم الاخر والقدر خيره و شره من الله تعالى) يعني ايمان داسې شی دی چې ايمان راوړې په الله او په پرښتو يې او په کتابو يې او په رسولانو يې او د قيامت په ورځ او اندازه د خير او شر له الله تعالى ده، نو چې داسې وي

[1]. البقره / ۷.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څوک چې په هر دین او ملت وي معذور دی.

**اهل سنت :**

اهل سنت او جماعت وایي : هر څوک چې عاقل او بالغ وي باید د خدای تعالی یووالی وپېژني، په هیڅ ډول معذور نه دی، که داسې معنی ورته حاصله نه شي کافر به وي.

**دلیل :**

الله تعالی فرمایلي دي : ((فاعلم انه لا اله الا الله))[1] یعني نو پوه شه چې شان د خبرې دا دی چې لایق د عبادت نشته مګر الله دی.

## ۳۹_ اباضیه

**د نوم وجه:**

اباضیه فرقه د عبدالله اباض اصحاب دي ځکه ورته اباضیه وایي.

**عقیده :**

اباضیه فرقه عقیده لري، چې : اهل شرک نجس او اهل ایمان پاک دي خو په ظاهر صورت یو شان دي څرنګه چې کفر او ایمان په زړه کې وي پاک له ناپاک نه معلومیږي نو باید له ټولو انسانانو ځان وساتل شي نه چې په ناپوهۍ کې نجس شي.[2]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : د ایمان نور او د صالحانو څېره د هر چا په

---

[1]. محمد / ۲۱.

[2]. اباضیه داسې عقیده هم لري، چې د کبیره مرتکب کافر بولي، د کفارو لار کې توقف کوي، نفاق کې توقف کوي. (هفتاد و سه ملت ص ۴۹).

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثېره کې معلومېږي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: (تعرف فی وجوههم نضرة النعيم)[1] يعنې پېژني د دوی په مخو کې به د نعيم تازګي وي.

او منافقان هم نښې او دليل لري لکه چې خدای تعالی فرمايلي دي: ((ولتعرفنهم فی لحن القول))[2] يعنې او هرو مرو به په تحقيق سره دوی وپېژنې چې په لحن د قول کې به يې معلومېږي.

## ۴۰_ لوزيه

**د نوم وجه:**

د لوزيه فرقې د تسميې وجه داسې ده چې لوز بادام ته وايي لکه بادام، چارمغز، پسته او خستکي په پوستکي کې يو شان ښکاري خو چې مات شي ځينې پوچ وي او ځينې مغز لري. انسانان هم ظاهراً يو شان دي خو په چا کې ايمان وي او چا کې نه وي او هغه مونږ ته نه معلومېږي. له دې کبله لوزيه فرقه وايي: چا ته دې لاس نه ورکول کيږي چې په ناپوهۍ کې نجس نه شي. ځينو ويلي دي د دې فرقې نوم په لوزيه غلط دی صحيح نوم يې (کوزيه) دی نو د تسميې وجه يې په دې نوم له دې امله دی چې: دوی د بولو او غايطو اچول په ځمکه جايز نه ګڼي. دليل يې داسې بيانوي، چې ځمکه ټوله مسجد ده لکه چې حديث شريف کې راغلي دي (جعلت لي الارض مسجداً و طهوراً)) دوی ته چې د دې خيزو ضرورت پيدا شي د کوزو او ويالو قصد کوي ځکه ورته

---

[1]. المطففين / ۲۴.

[2]. محمد / ۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(کوزیه) وایي.

**عقیده :**

لوزیه عقیده لري چې اهل شرک نجس دي او اهل ایمان پاک دي خو په ظاهر صورت یو شان دي، څرنګه چې کفر او ایمان په زړه کې وي پاک له ناپاک نه معلومیږي نو باید له ټولو انسانانو وساتل شي نه چې په ناپوهۍ کې نجس شي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي دا باطل مذهب دی کوم اساس نه لري، مسلمان ورور سره لاس په لاس مصافحه او غاړې په غاړې کیدل (معانقه) سنت ده لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي : (قالوا : یا رسول الله! ان احدنا یری صاحبه بعد برهة انحتی له، قال: یاخذ یده فیصافحه او یعانقة) یعنې ویې ویل : ای رسول الله یو له مونږ چې خپل ملګری ډیره موده پس ووینې ورته کوږ شي احترام او دوستي ورته څرګندوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : په ملا دې نه ورته کږیږي، بلکې مصافحه یا معانقه دې ورسره وکړي، چې لاس په لاس ورکړي یا لاس په غاړه ورواچوي او یو بل سره ډوډۍ خوړل سنت دي او تنها ډوډۍ خوړل مکروه دي : (قال النبي صلی الله علیه وسلم شر الناس من اکل وحده) یعنې بدترین خلق ډیر خوړونکي او تنها خوړونکي دي).

## ۴۱_ خشبیه

**د نوم وجه:**

څرنګه چې په عربي ژبه کې خشب وچو لرګیو ته وایي او دا خشبیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرقې عقيده ده چې پس له مرګه قلم پر بندګانو وچيږي. د دغه وچوالي لپاره د اخشبيه لقب ورکړی شوی دی او دوی د خوارجو له فرقې (الاخنس) نومي ته منسوب دي.[1]

**عقيده :**

اخشبيه فرقه عقيده لري چې تر څو بندګان ژوندي وي قلم پرې روان وي خو چې مړه شي قلم ورباندې وچ شي که نيکي يې کړې وي هماغه وي او که بدي يې کړې وي هماغه وي چې په ژوند يې کړې وي، زياتوالی په کې نه راځي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : څوک چې په بندګانو کې ښه لاره جوړه کړي هر څوک چې په هغې لارې ځي ثواب يې په دغې لارې د تلونکي په اندازه د دغې لارې جوړوونکي ته هم رسيږي او په ديوان کې يې ورته ليکل کيږي او څوک چې بده لاره پريږدي هر څوک چې عمل ورباندې وکړي عذاب يې د عمل کوونکي په اندازه ده ته هم په ديوان کې ليکل کيږي.

**دليل :**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي (من سن سنة حسنة بعمل بها بعد موته فله اجرها مثل اجرمن عمل بها و من سن بدعة سيئة فعليها وزرها و مثل وزر من اتبعها)[2]

همدارنګه صالح اولاد په دعا د مور او پلار درجه زياتيږي او د جاريه

---

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۵۱.

[2]. صحيح مسلم ج ۸ ص ۲۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صدقې لکه د مسجد یا خانقا یا رباط جوړولو ثواب چې ورته رسیږي چې څوک نفع ترې اخلي او چا چې نافع علم زده کړی وي یا یې تالیف او تصنیف کړې وي یا یې چا ته څه لیکلې وي او په هغه عمل وکړي درجه یې زیاتیږي. لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((اذا مات ابن ادم انقطع عمله الا عن ثلاث : ولد صالح یدعو به و علم ینتفع به و صدقة جاریه)) [1]

# ۴۲_ تغلبیه

**د نوم وجه:**

تغلب مختلفې معناګانې لري. ځینې یې غاړه اوږدول غلبه موندل دي چې دې ځای سره مناسبت لري ځکه دا فرقه په لاندې ذکر شوې عقیدې خپلې غاړې اوږدوونکې او له حق او حقیقت وتل دي ځکه به ورته دغه نوم ایښودل شوی وي.

**عقیده :**

تغلبیه فرقه عقیده لري چې خدای تعالی د بندګانو اعمال نوي نوي پیدا کوي او هغه وخت چې فعل اجرا شي ولیکل شي قضایي مخکې نه وي او تقدیر یې نوی منځته راځي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : د ځمکې او اسمانونو له پیدا کیدلو مخکې لیکل شوی دی چې د ادم اولاد به عالم کې پیدا شي څه کارونه به کوي قضا لیکلیدي او تقدیر یې هلته لوح محفوظ کې شوی دی.

---

[1]. جامع الصغیر ج ۱ ص ۱۱۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دلیل :** الله تعالی فرمایلي دي : ((و كل شيءٍ فعلوه الزبر و كل صغير و كبير مستطر))[1]

www.melitahrik.com
0777 400 116

---

[1]. القمر / ٥٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴۳_ قاسطیه

**د نوم وجه:**

**عقیده :**

قاسطیه فرقه عقیده لري چې : د دنیا نعمت: راحت، فراغت او په مراد رسیدل دي او دا د نیکي کوونکو اجر دی او د دنیا عذاب: فقر، نامرادي، احتیاج، غم، اندوه او خشکي ده چې دا د بدکارانو سزا ده نو هر څوک چې نیکي وکړي مکافات یې دنیا کې نقد په نقد ورته رسیږي. حاجت یې نشته اخرت نه شته او بدي هم همداسې په دې قیاس ده نو دوی وایي : ثواب او عقاب جزاء د اعمالو او اقوالو، خیر او شر ده او په دنیا کې رسیږي په اخرت کې نګراني نشته منتظر یې مه اوسئ.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : دنیا ملعونه ده او څه شی چې ملعون وي د نیکوکارو لایقه نه وي.

**دلیل :**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : ((الدنیا و ما فیها سوی ذکر الله و ما والده (ملعون)) یعني دنیا رټلې درګاه ده او نعمت د خدای تعالی کړه دي او څه چې دې دنیا کې دي مطرود او مردود دي او داسې څیزونه د عاملینو اجر نه شي کیدلای.

# ۴۴_ تکوینیه

**د نوم وجه:**

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکوینیه فرقه د دې لپاره په دې نوم ملقبه شوې ده چې دوی عقیده لري: د خدای تعالی وجود د ده له خپل ذات څنې دی.

**دلیل :**

دوی وايي : د دې لپاره چې دی جل جلاله د ټولو اشیاوو پیدا کوونکی دی حال دا چې دی جل جلاله هم شی دی نو د خپل نفس خالق هم خپله دی.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : دا سمه خبره ده چې خدای تعالی د هر شي خالق دی او دا عموم افاده کوي خو عقل د دې عام مخصص دی لکه چې خدای تعالی فرمایلي دي: ((و اتیت من کل شیءٍ))[1] یعنې د عقل قرینه حکم کوي او عام خاص ګرځوي، ټول عقلا پوهیږي چې مطلق معدوم په خپله نه پیدا کیږي لکه چې عقل حکم کوي، د بلقیس په حکایت کې راغلي دي: چې د دې پادشاهي هغې درجې ته رسیدلې وه چې هر څه ورته موجود و (و اتیت من کل شیءٍ) عقل دغه عام خاص ګرځوي او وايي، چې: ډېر څیزونه وو چې بلقیس نه لرل لکه کوه قاف، لمر، سپوږمۍ، عرش، کرسي، لوح، قلم، په دې ځواب کې یوه دقیقه نکته ده چې بې له علماوو څوک پرې نه پوهیږي.

## ۴۵_ متوسمه

**د نوم وجه:**

---

[1]. النمل / ۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توسم د يو ځيز ليدلو کتلو ځرګنديدلو، فراست او په نښو او علامو پوهېدلو ته وايي متوسمه فرقه چې په دې نوم ملقبه شوې ده د دې لپاره چې د دوی عقيده کې داسې دي چې په هغه څه عمل کوي چې له زړه يې ورته ځرګند او (متوسم) شي.

**عقيده :**

متوسميه فرقه عقيده لري چې څه دې زړه درته وايي هغه کوه که زړه پاک او نوراني وي هر څه به رباني الهام په کې ډيرېږي او زړه چې تياره وي د انساني طبيعت زنګار يې نيسي نو هر څه چې درنه کيږي ټول معصيت او ګناه وي.

**دليل :**

په حديث شريف کې راغلي دي : ((ان للشيطان لمة ابن ادم و للملک لمة)) [1] يعني شيطان لره د بني ادم په زړه کې د قدم پل دی او ملکې ته پل دی نو د شيطان پل شر او دروغو ته لمسون کوي او د ملکې پل خير رښتيا او حق ته يې متوجه کوي نو ځوک چې د ښو احساس ومومي پوه دې شي چې هغه د خدای تعالی له خوا دی نو د خدای تعالی حمد دې ووايي او ځوک چې د بدۍ احساس وکړي نو له شيطان دې پناه وغواړي. دوی عقيده لري چې خاص زړه د زړه حاکم دی نه قرآن او نه خبر.

**اهل سنت او جماعت :**

---

[1]. جامع الصغير ج ١ ص ٣٢٢ (هفتاد و سه ملت ۵۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي: زړه د خير او شر معدن دی د نيکۍ او بدۍ تخم په کې کرل کيږي، چې هره ګړۍ د خلکو له زړه راوځي او ته نيک له بدو نه شې پيژندلې نو پر تا لازم دي چې هر څه د زړه په فرمان ونه کړې، د قرآن مطيع او د فرمان تابع اوسه، څه چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم درته رسيدلي د هغو پيرو اوسه او هغه کوه.

**دليل :** الله تعالی فرمايلي دي چې : ((وما اتيکم الرسول فخذوه و ما نهيکم عنه فانتهوا)) [1] يعنې څۀ چې رسول درکړي هغه ونيسه او له څه شي يې چې منع کړی يې له هغو ځان منع کړئ.

## ۴۲_ محروقيه

**د نوم وجه:**

د دې فرقې نوم په (الفرق المتفرقه) کتاب ۹۲ مخکې (الحرقيه) راغلی دی، دوی په محروقيه ځکه ملقب شوي دي چې عقيده لري چې کافر سوزول کيږي او ايره شي نور عذاب نه ويني.

**عقيده :**

محروقيه فرقه عقيده لري چې خدای تعالی کافران په اور نه سوزوي مګر يو ځلې او ايرې شي نور عذاب نه ويني.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي چې کافران هيڅکله له عذاب نه خلاصيږي (خالدين فيها) [2] تل به دې اور کې وي او هيڅکله نه معدوم کيږي

---

[1]. الحشر / ۹.

[2]. البقره / ۱۵۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عذاب یې پای نه لري او هر کله یې چې پوستکی وسوزي بل پوستکی یې په ونج کې پرې راشین شي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي : ((کلما نضجت جلودهم بدلناهم جلوداً غیرها))[1] یعنې او کله چې د دوی پوستکي پاخه شي مونږ به یې په نورو پوستکو بدل کړو.

## ۴۷_ بوستانیه

د نوم وجه : د دې فرقې صحیح نوم باید (مفروغیه) په غین باندې وای.

**عقیده :**

بوستانیه فرقه عقیده لري چې : څرنګه د جنت فراخي له اوو ځمکو او اوو اسمانو زیاته ده (عرضها کعرض السماء و الارض)[2] یعنې سور یې د ځمکې او اسمان د سور په شانتې ده، په ورځ د قیامت چې دا اسمانونه ونغښتل شي (کطی السجل للکتب)[3] لکه د کتابو سجل چې ونغشتل شي، جنت به د هغو اسمانو په ځای پیدا کړي. همدارنګه چې ځمکه ونغاړي (والارض جمیعاً قبضته)[4] او ټوله ځمکه چې قبضه یې کړو، دوزخ به د ځمکې په ځای پیدا کړي اوس جنت او دوزخ موجود نه بولي.

**اهل سنت او جماعت :**

---

[1]. الحدید / ۲.
[2]. الحدید / ۲۱.
[3]. الانبیاء / ۱۰۴.
[4]. الزمر / ۲۸.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي: ((اسفل السافلين کې د ځمکې اوومې طبقې لاندې يو ځای دی چې سجين نوميږي اوس دوزخ هلته دی جوړ تيار ((انا اعتدنا للکافرين سلاسل واغلالاً و سعيراً)) [1] او د اسمان له اوومې طبقې له پاسه د سدرة المنتهی ونه ده. [2] جنت اوس هلته دی، د جنت بام عرش دی (عرش الرحمن سقف الجنة) يعنې د رحمن عرش د جنت سقف (بام) دی.

## ۴۸_ مفروعيه

**د نوم وجه:**

د مفروعيه نوم بنايي (مفروعيه) په (غ) باندې وي ځکه چې مناسبت يې د دوی له عقيدې سره پرې سميږي. [3]

**عقيده :**

مفروعيه فرقه عقيده لري چې الله تعالی د هر څه په برخه کې د خير او شر هر څه چې تر قيامته پورې کيږي وليکل. اوس خدای تعالی له ټولو کارونو فارغ دی څه يې چې ليکلي هماغه کيږي او هغه تعبير نه خوري.

**دليل :**

حديث شريف دی : فرغع الله من اربع من الخلق و الرزق و الاجل. [4]

---

[1]. الدهر / ۱۴.

[2]. حديث شريف کې راغلي دي که يو تېز اس د هغې د يوې پاڼې سوری طی کولو لپاره يو کال مزل پرې وکړي هغه به طی نه کړي او سدر د کنار ونې ته وايي. سدرة المنتهی اووم اسمان کې ونه ده چې ريښې يې شپږم اسمان کې دي.

[3]. هفتاد و سه ملت ص ۵۲.

[4]. جامع الصغير ج ۲ ص ۱۷۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : (فرع مما كان لا مما هو كائن) څه چې دي هغه يې ليکلي له هغه فارغ دی او څه چې کيږي ورځ په ورځ يې ليکي او خدای تعالی هره ورځ شان لري (کل يوم هو فی شان) [1]

www.melitahrik.com 0777 400 116

[1]. الرحمن / ۲۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴۹_ نجاریه

**د نوم وجه:** د نجاریه فرقه د محمد بن الحسین النجار اصحاب دي ځکه ورته نجاریه وايي.[۱]

**عقیده :**

نجاریه عقیده لري چې : خدای تعالی زمونږ د ژبې وینا د لاس نیول، د پښو تګ پیدا کړي دي نو د بندګانو فعل د ده جل جلاله فعل دی. له دې کبله که جزا ورکوي په خپل فعل به یې جزا ورکړې وي نه د دوی په فعل.

**دلیل :**

الله تعالی فرمایلي : (والله خلقکم و ما تعملون)[۲] یعني الله تعالی تاسې پیدا کړي یئ او هغه څه یې پیدا کړي دي، چې تاسې یې کوئ، ځکه چې دوی لره د خدای تعالی له ذات ځنې نه افعال شته او نه اقوال، د دوی عقیده د افعالو پیدا کیدلو کې او دا چې د بنده فعل لیکل کیږي اهل سنت او جماعت سره موافقت لري او د وجودي صفاتو په نفي کولو او د خدای تعالی د لیدلو په نفي کولو کې او د کلام په حدوث کې معتزله وو غوندې دي.[۳]

**اهل سنت او جماعت :**

---

۱. هفتاد و سه ملت ص ۵۲.

۲. الصافات / ۹۴.

۳. هفتاد و سه ملت ۵۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي : سعي د بنده وي او بنده لره خير د ده د سعي په اندازه دی.

**دليل :**

الله تعالی فرمايلي دي : (و ان ليس للانسان الا ما سعی ان سعيه سوف يری)[1] يعني انسان لره هيڅکله نه شته مگر د هغه څه چې هاند يې کړی وي او هرو مرو به خپل هاند ژر ووينې.

## ۵۰_ خارجيه

**د نوم وجه:**

خارجيه فرقه خوارج دي د نوم وجه يې له همدې کبله ده او دوی څو ډلې شوي دي. لکه :[2]

**۱_ المحکميه :** هغه دي چې علي رضی الله عنه باندې د (التحکيم) په وخت کې ووتل، دوی ويل : څوک چې عادل وي قريش وي او که غير قريش وي هغه امام دی او اکثرو صحابه وو ته د کفر نسبت کوي او د کبيره گناه مرتکب کافر گڼي.

**۲_ البهيه :** هغه دي چې ايمان يوازې اقرار او علم په خدای او هغه څه چې رسول د خدای راوړي دي، بولي او وايي: اطفال په کفر او ايمان کې د خپلو پلرو غوندې دي.

---

[1]. النجم / ۴۰.

[2]. هفتاد و سه ملت ص ۵۲.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳_ الازارقه :** هغـه دي چـې وايـي : علـي پـه تحکـیم کـافر شـوی دی او صحابه کافر شوي دي او له قتال ناست خلک کـافر شـوي دي. او وایـي : د مخالفینو د اولادو او د هغوی د ښځو وژل جواز لـري او وایـي : زانـي باندې رجم نشته، او نـه پـه ښځه د قذف حد شته او وایـي: د مشـرکینو اولاد به له خپلو پلرو سره په دوزخ کې وي، دوی روا بولي چې نبي کافر وي او د کبیره مرتکب هم کافر بولي.

**۴_ النجدیه :** دوی خلـک فروعـو کـې نـاپوهیو بانـدې معـذور بـولي او وايي د خلقو حاجت امام ته نشته.

**۵_ الاصغریه اوالاباضیه :** هغه دي چې وايي زمونږ د قبلې مخالفین کافر دي غیر مشرکین او د بنده فعل د خدای تعالی مخلوق بولي.

**عقیده :**

خارجیه فرقه عقیـده لـري چې لنډیز یې داسې دی : دوی وایـي : خدای تعالی بس دی او کله وایي الله او رسول بس دي بل فریادرس نشـته دی، د رسول الله اولاد او علی مرتضی ټولو نه بېزاري کوي او شاهدي وایـي چې : علي پس له مصطفی کافر شوی (العیاذ بالله)

**اهل سنت او جماعت :**

اهـل سنت او جماعـت وايي : د علـي رضـي الله عنـه پـه برخـه کـې ناسـزا خبرې کفر دی، دی د خدای تعالی ولي دی او د مصـطفی وصـي دی او د خدای ولي اود رسول ولي باید دوست ولرواو د نبوت خاندان مینـه وال د دین اساس دی.

**دلیل :**

الله تعالی فرمایلي دي (قل لا اسئلکم علیه اجراً الا المودة فی القربی) [1]
یعنې ووایه (ای محمده دوی ته) چې: زه له تاسې په دعوت کومه اجوره
نه غواړم مګر په خپلوانو کې دوستي.

# ۵۱_ شیعه

**د نوم وجه:**

شیعه وو ته د دې لپاره شیعه وایي چې دوی علي رضي الله عنه شائع کړ
او ویې ویل چې دی پس له رسول الله صلی الله علیه وسلم امام دی او
امامت له ده او د ده له اولاد څخه نه ووځي او که وځي په ظلم یا په تقیه
وي.

**عقیده :**

شیعه عقیده لري چې : علي رضي الله عنه زړور، سخي، عالم او د علم
څښتن و او پس له رسول الله صلی الله علیه وسلم د امامت حق علي
رضي الله عنه درلود ، او چا چې امامت تري اخستی ظلم، کبر او عناد
یې کړی دی.

**دلیل :**

د دوی دلایل یو دا مبارک ایت دی (انما ولیکم الله) [2] او دا حدیث
شریف دی: ((من کنت مولیه فعلی مولیه) [3]

---

[1]. الشوری / ۲۲.

[2]. المائده / ۲۰.

[3]. دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع په ورځ د خم په غدیر کې وکړه او
ویې فرمایل : ایها الناس: الست اولی بکم من انفسکم قالوا بلی یا رسول الله قال فمن کنت

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : صحابه وو کبارو اجماع وکړه او علي رضي الله عنه هم رضا شو چې پس له محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ابوبکر صدیق رضي الله عنه خلیفه شو نو په دې تقدیر هغه باندې ظلم نه دی شوی.

**دلیل :**

رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمر په اخر وخت کې د لمانځه امامت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته ورکړ نو د لمانځه پیشوا والی یې د خلافت دلیل و او دا د نه منلو خبره ده چې په دې برخه کې چا په علي رضي الله عنه ظلم کړی وي.

## ۵۲_ رافضیه

**د نوم وجه :**

رافضیه نوم لومړی د کوفې د خلکو و چې د زید بن علي بن حسین ملگری و څرنگه چې ده د ابوبکر او عمر له لعن ځان ساتنه وکړه دی یې ترک کړ. له دې کبله ورته رافضه وویل شول، مغیره بن سعید د مغیریه فرقې سرکښې چې ولیده نور شیعیان ورنه په شا شوي دي. دوی باندې یې رافضه نوم کېښود ، اهل سنت د شیعه وو ټولې فرقې رافضه بولي. [1]

**عقیده :**

---

مولاه فهذا علی موله، الهم و ال من ولاه وعاد من عاداه و انصره من نصره و اخذل من خذله وادرالحق معه کیف مادار.

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۵۹.



www.melitahrik.com 0777 490 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

رافضیه فرقه عقیده لري چې جبرائیل علیه السلام علي کرم الله وجهه ته وحي راوړه خو دا چې دی کم عمره (۹) کلن و نو محمد صلی الله علیه وسلم د ده له خوا رسالت ادا کړ نو نبوت په حقیقت کې د علي رضي الله عنه دی او علي رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورزده کاو. او رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټولنه کې ادا کاوه. کله وایي رسالت د علي رضي الله عنه دنده وه جبرائیل (ع) خطا شو باید وحي یې علي رضي الله عنه ته وروړې وای.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي د احمق ځواب سکوت دی.

## ۵۳_ امامیه

**د نوم وجه:**

څرنګه چې د امام په برخه کې په لاندې ډول ځانګړې عقیده لري ځکه ورته امامیه وایي.

**عقیده :**

امامیه عقیده لري چې د هر چا امام چې معصوم او د حسین بن علي رضي الله عنه له اولادې څخه نه وي لمونځ یې نه صحیح کیږي. باید امام په صغیره او کبیره مرتکب نه وي او داسې امام نشته مګر څوک چې د حسین بن علي له اولادې وي.

**دلیل :**

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدیث شریف دی : ((الائمة من قریش)) یعنې امامان له قریشو دي، دنیا له دوی خالي نه وي خو د اهل ظلم له تعدی پټ وي ځانونه نه ښکاره کوي، خلافت د دوی حق وي او د دوی میراث وي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : (صلوا خلف کل برٍ و فاجرٍ)[1] یعنې هر نیکوکار او بدکار پسې لمونځ کوئ.

## ۵۴_ ناوسیه

**د نوم وجه:**

د شیعیه و امامیه فرقې څنې ناوسیه یوه فرقه ده چې وایي امام جعفر صادق رض دایمي ژوندی دی او امامت یې بادوامه دی او د هغه د ظهور په انتظار کې دی او موسس یې د بصرې یو سړی دی چې عجلان بن ناوس نومېده.[2] ځکه په ناوسیه ملقبه شوې ده.

**عقیده :**

ناوسیه فرقه عقیده لري چې د مباهله ایت (انفسنا و انفسکم)[3] کې خدای تعالی علي رضي الله عنه د رسول نفس بللی دی او رسول له ټولو په اتفاق ډېر فاضل دی او ټولو پیغمبرانو نه ستر دی او ټولو اولیاوو

---

[1]. جامع الصغیر ج ۲ ص ۲۲.

[2]. هفتاد و سه ملت ص ۲۰.

[3]. ال عمران / ۵۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او صوفيانو نه غوره او بهتر دی نو امير المؤمنين چې د نبي په مرتبه وي پس له رسول به هيڅوک تر علي ډېر فاضل نه وي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په لمانځه کې امامت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته ورکړ دليل دی چې هغه ډېر فاضل دی او د مباهلې په ايت کې چې د (نفس) جمع راغلی د دې مقتضی نه ده چې د ټولو نفسو علمي او روحاني درجه دې يو شان وي. په تېره د علي رضي الله عنه چې ولي دی له محمد صلی الله عليه وسلم سره چې رسول دی عقلاً او عقيده يو شان شمېرل کيدلای نه شي ځکه چې رسول معصوم وي او ولي ته معصوم نه شي ويل کيدلای خو دا چې علي رضي الله عنه د عشره مبشره له جملې صحابي دی د خدای تعالی د هغه بشارت له مخې چې عشره مبشره و په برخه کې راغلی او د ټولو صحابه وو رض په برخه کې چې کومه د خدای تعالی د رضا نسبت درجه حاصله شوې ده د لوړې درجې څښتن او خدای بخښلی جنتي شخص دی خو د جلا دلايلو له مخې پس له رسول الله صلی الله عليه وسلم څلور ياران دي او هغوی کې اول ابوبکر صديق رض، دوم عمر رض، دريم عثمان رض، څلورم علي رض درجې لري او دا څلور ياران او شپږ تنه (سعد ، سعيد ، ابوعبيده، طلحه، زبير او عبدالرحمن، صحابه کرام لس تنو ته عشره مبشره وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم سره به ذوقبلتين جماعت کې له بيت المقدس د کعبې شريفې قبلې ته د خدای تعالی په امر (فول

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجهک شطر المسجد الحرام﴾[1] بدون له شک او تردد د مازیگر لمانځه کې گرځیدلی و.

## ۵۵_ امیریه

**د نوم وجه:**

امیریه په اصل کې امریه ده ځکه چې دغه فرقه علي رضي الله عنه د رسالت په امر کې له محمد صلی الله علیه وسلم سره شریک گڼي. له دې امله ورته امیریه وایي.

**عقیده :**

امیریه فرقه عقیده لري چې علي رضي الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم سره داسې شریک دی لکه هارون چې موسی علیه السلام سره و.

دلیل : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : ((انت منی بمنزلة هارون من موسی))[2]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : څوک چې علي رضي الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم سره په نبوت کې شریک وگڼي کفر ته وځي.

**دلیل :**

ځکه چې د غیر نبي تصدیق په نبوت کوي او د حدیث سبب داسې و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د تبوک عزا ته ورته علي رضي الله عنه ته یې وفرمایل: مدینه کې زما خلافت کوه. علي رض وویل : ما هلکانو

---

[1]. البقره /

[2]. هفتاد و سه ملت ص ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښځو کې د جهاد په ورځ پرېږدې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای علي! راضي نه يې چې تا ته د هارون منزلت وي چې موسی علیه السلام د طور غره ته ورتلو هارون يې په خپل ځای په خلافت پرېښود. (قال موسی لاخيه هارون: اخلفني في قومي) [۱] يعني موسی خپل ورور هارون ته وويل: زما په قوم کې زما خليفه شه. [۲] او فرمايلي يې دي: ((لا نبي بعدی)) پس له ما نبي نشته. [۳]

# ۵۲_ اسماعيليه

**د نوم وجه:**

اسماعيليه فرقې ته ځکه دا نوم کېښودل شوی دی، چې دوی اسماعيل بن جعفر په امامت گڼي او دوی ځونور نومونه هم لري لکه:

الباطنيه: ځکه چې دوی په باطن د کتاب قول کوي نه په ظاهر د هغه.

القرامطه: ځکه چې لومړنی شخص د دوی حمدان القرامط نوميده.

السبعيه: ځکه چې دوی وايي: شريعتونه د اوو رسولانو دي: ادم، نوح، ابراهيم، موسی، عيسی، محمد او محمد المهدي يعنې محمد بن اسماعيل.

البابکيه: ځکه چې د دوی يو طائفه د بابک الخرمي تابع و.

التعلميه: ځکه چې دوی ويل: امام بايد خپلو پيروانو ته د دې تعليم وکړي.

---

[۱]. الاعراف / ۱۳۸.

[۲]. همدغه مرجع.

[۳]. هفتاد و سه ملت ص ۲۱- احتجاج طبری ص ۴۱ شرح باب ۱۱ ص ۵۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاحده : دا نوم ورته مخالفینو ورکړی دی.[۱]

**عقیده :**

اسماعیلیه فرقه عقیده لري چې نبوت له ادم علیه السلام تر قیامته پورې متصل شته دی ځکه چې د هر وخت خلک په بل صفت وي او هره پېړۍ کې خلکو ته بل استعداد او فهم وي نو هرې زمانې ته پیغمبر په کار دی چې د دوی د زمانې له حال سره مناسب وي چې خلق خدای تعالی ته وبولي او مناسب شریعت په خلکو کې ظاهر کړي او د دوی د عقل په اندازه وحدانیت ته دلیل راوړي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : پس له محمد صلی الله علیه وسلم بل نبي نشته او پس له قرآن بل کتاب نه نازلیږي، د دین کار د محمد صلی الله علیه وسلم په وخت کې مکمل شوی دی. د نبوت د کور په دروازه یې مهر لګولی دی او د قیامت تر ورځې به اسلامي شریعت او صراط مستقیم ثابت او قایم وي.

**دلیل :**

خدای تعالی فرمایلي دي : ((ما کان محمد ابا احد من رجالکم و لکن رسول الله و خاتم النبیین و کان الله بکل شیءٍ علیما)) [۲]

## ۵۷_ جلامده

د نوم وجه :

---

[۱]. هفتاد و سه ملت ص ۲۲.

[۲]. الاحزاب / ۴۰.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (جلامد) یوه معنی تیږه ده څرنګه چې د جلامده فرقه په لاندې ډول عقیده لري چې د صحابه وو حال پټ معرفي کوي ځکه ورته جلامده نوم ایښودل شوی دی.

**عقیده :**

جلامده عقیده لري چې د صحابه وو حال له مونږ پټ پاتې شو پوه نه شولو چې هر یو په کوم کار کې دی. حال دا چې خلکو ته له مقتدی (پېشوا) او قاهر حاکم چې د دوی په سر وي چاره نشته ځکه چې که صلاح او فلاح له امت پورته شي او فتنه څرګنده شي نو په هر چا چې لویان او مشران اتفاق وکړي امامت د هغه حق دی ظالم وي که صالح.

**دلیل :**

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي چې امامت د خدای تعالی دی او خلافت یې امانت دی د خلکو نوامبس، وینې او مالونه یې ده ته حواله کړي دي او فاجر ظالم ته ښایي چې خلیفه شي، ځکه چې ده ته دغه سعادت نه رسیږي او دغه دولت لار نه ورته پیدا کوي.

**دلیل :**

الله تعالی فرمایلي دي : ((لا ینال عهدی الظالمین)) [1] زما عهد ظالمانو ته نه حاصلیږي.

## ۵۸_ حکمیه

**د نوم وجه:**

---

[1]. البقره / ۱۱۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظاهراً حکمیه د خوارجو له فرقې هماغه (المحکمه) فرقه ده چې په علي رضي الله عنه د تحکیم په وخت کې راووتل[1] او د کفر نسبت یې ورته وکړ او ویل یې قریش وي که غیر قریش وي خو چې عادل وي هغه امام دی او که ظلم وکړي غزل یې واجب دی او یا دې ووژل شي. دوی د امام تاکل جایز ګڼي نه واجب، دوی عثمان او اکثر صحابه او د کبیره مرتکب ته د کفر نسبت کوي.

**عقیده :**

حکمیه عقیده لري، چې د سترو صحابه وو او یارانو ترمنځ اختلاف راغی پس له هغه یې اتفاق او اجماع اعتبار نه لري او خلافت هم د خلکو له منځ تللی هیڅوک د ځمکې په مخ د خلافت حق نه لري، تر قیامته پورې چې څوک د خلافت دعوی وکړي باطله ده او وایي چې حکم باید په قرآن او حدیث وشي که په مخلوق پسې حکم کولو کې لاړ شي کفر ته وځي.

**دلیل :**

الله تعالی فرمایلي دي ((من لم یحکم بما انزل الله فاولئک هم الکافرون)) [2] یعني څوک چې به هغه څه چې د الله جل جلاله له خوا رانازل شوی حکم ونه کړي نو همدغه کسان همدوی کافرن دي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي: په اسلام کې حاکم د خدای تعالی فرمان دی.

**دلیل :**

---

[1]. شرح المواقف ج ۳ ص ۲۱۹.

[2]. المائده / ۴۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعـالی فرمـایلي دي : ((اطیعـوا الله و اطیعـوا الرسـول و اولـی الامـر مـنکم)) [۱] یعنـې تابعـداري د خدای وکـړئ او د رسـول د خدای اطاعـت وکړئ او د اولی الامر چې ستاسو ځنې وي.

## ۵۹_ لاعنیه

**د نوم وجه:**

لاعنیه د غلاة له فرقو یوه فرقه وه چې په عثمـان، طلحـه، زبیـر، معاویـه او ابو موسی اشعري یې لعن کاوه [۲] ځکه ورته لاعنیه وایي.

**عقیده :**

لاعنیه عقیده لري چې ابوبکر صدیق رضي الله عنـه، عمر رضـي الله عنـه، عثمان رضي الله عنه، زبیر رضي الله عنه، عائشـه رضـي الله عنهـا پـرې نـه ښودل چې د علي رضـي الله عنـه د ولایت نور وځلیـږي. عـالم تیـاره کـې پاتې شو او سمه لاره ورکه شوې او د دوی لـه سـولې مسـتحق حق تـه ونـه رسید او د علي رضي الله عنـه پـه ولایت یـې اقـرار ونـه کړ او خلافـت یـې ورته ورنه کړ نو لاعنیه له دې امله لعنت وربانديې ثواب بولي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : معاذ الله چې څوک په ذکر شـویو اشخاصـو لعنت ووایي او لعنت پرې روا وبولي، په هغوی لعنت ویلو بانـدې سـړی کافر کیږي.

---

۱ .

۲. هفتاد و سه ملت ص ۲۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دليل :** ذکر شوي کسان د رسول د خدای صحابه وو خدای تعالی د دوی ستاينه فرمايلې ده: ((والذين معه اشداء على الکفار رحماء بينهم))[1] يعنې هغه کسان چې تا سره دي ای پيغمبره په کفارو باندې سخت او خپلو منځو کې سره مهربانه دي.

## ۲۰ـ رجعيه

**د نوم وجه:**

رجعيه وايي چې علي کرم الله وجهه بيا دنيا ته مراجعه کوي او راځي ځکه ورته رجعيه وايي، دوی د شيعه وو د غلاتو يوه ډله ده.

**عقيده :**

رجعيه فرقه عقيده لري، چې: خدای تعالی امير المؤمنين علي رضي الله عنه او د هغه ملګري دنيا ته بيا راولي او راژوندي کوي يې او له خپلو دښمنانو غچ اخلي.[2]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي: څوک له دنيا لاړ شي بيا دنيا ته نه راځي.

**دليل :** الله تعالی فرمايلي دي ((انهم اليها لا يرجعون))[3] يعنې هرومرو دوی دنيا ته نه راګرځي.

او د کهف اصحاب چې درې سوه ۹ کاله پس ژوندي شول چې د (قيانوس) باچا په وخت کې د (افسوس) له ښار تښتېدلي وو او په يوه

---

[1]. الفتح / ۲۹.

[2]. تلبيس ابليس ص ۲۲، او هفتاد و سه ملت ص ۲۵.

[3]. هفتاد و سه ملت ص ۲۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غار کې پټ شوي وو او همدارنګه عزیر پیغمبر چې پس له دوه سوه او نه کاله ژوندی شو او د برش کاله نور په دنیا کې پاتې شو او نور څوک چې د عیسی علیه السلام په دعا ژوندي شوي دا او داسې نور د دې دلیل نه شي کیدلای چې علي رضي الله عنه او ملګري یې بیا دنیا ته راځي ځکه هغه څوک چې د مخه ذکر شول او دنیا ته راغلي وو هغه معجزې وې.[1]

## ۲۱_ متربصه

**د نوم وجه:**

متربصه وايي چې په هره پېړۍ او هر وخت کې دې مسلمانان یو امیر وټاکي چې هغه به د اسلامي امت مهدي وي او چې کله هغه وفات شي بل سړی دې وټاکي ځکه دوی په متربصه نومول شوي دي.[2]

**عقیده :**

متربصه عقیده لري چې: محمد بن حسن العسکري صاحب الزمان مهدي اخر الزمان دی. د بغداد ولایت د (سامره) په کلي کې د عباسي خلفاوو له ظلم چې د ده قصد یې کړی و په (**۲۵۰**) هـ کال یوه کور کې پټ شو هر څو چې ولټول شو ونه موندل شو. له هغې ورځې په نړۍ کې دی او خلکو کې پټ دی، ظهور به وکړي او عالم به په عدل او آبادۍ ښکلی کړي.

**اهل سنت او جماعت :**

[1]. هفتاد و سه ملت ص ۲۵.

[2]. هفتاد و سه ملت ص ۲۵، او تلبیس ابلیس ص ۲۲.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي : مهدي پسې به عيسی بن مريم وي چې په اخره زمانه کې له اسمان راښکته کيږي. دجال سره جګړه کوي او دجال وژني، عيسی عليه السلام به خلک د محمد عليه السلام دين ته غواړي، متربصه وايي د عيسی عليه السلام راښکته کيدل له اسمان صحيح دي خو صاحب الزمان محمد بن حسن العسکري مخکې د هغه له نزول ظهور کوي.

**د اهل سنت او جماعت دليل :**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : ((لا يهلک امة انا فی اولها والمهدی فی اوسطها و العيسی فی اخرها))[1] يعني امت نه هلاکيږي، زه يې په اول کې يم، مهدي يې په اوسط کې دی او عيسی يې په اخر کې دی.

## ۲۲_ قبريه

**د نوم وجه:**

قبريه ځکه د دې فرقې نوم کېښودل شوی دی چې په قبر کې د نکير او منکر پوښتنې نه مني.[2]

**عقيده :**

قبريه فرقه عقيده لري چې په قبر کې له مړي سره په هغه تنګ ځای کې نکير او منکر له عمود لرګي سره څه رنګه ځاييږي نو دوی وايي چې په قبر کې سوال او عذاب اعتبار نه لري.

---

[1]. هفتادو سه ملت ص ۷۵- او (رک: سيدصدرالدين الصدر. المهدي ص ۸۸)

[2]. هفتاد و سه ملت ص ۲۷.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي: خداى تعالى د قبر په فراخولو قادر دى او ځوک چې د نکير او منکر له سوال منکر شي کفر ته ووځي.

**دليل :**

خداى تعالى د دوه ځلې مړه کيدلو او دوه ځلې ژوندي کيدلو خبر فرمايلى داسې چې: ((ربنا امتنا اثنتين فاحييتنا اثنتين)) [1] يعني رب زمونږ دوه ځلې مونږ مړه کوي نو دوه ځلې مو ژوندي کوي.

## ۲۳_ واقفيه

**د نوم وجه :**

اقفيه فرقه له هغې واقفه فرقې سره ارتباط نه لري کومه چې د امام موسى کاظم په مرگ د هغه په امامت متوقف پاتې دى بلکې دا فرقه د خوارجو له واقفه ځنې وي. [2]

**عقيده :**

اقفيه فرقه عقيده لري چې په کتاب او سنت کې داسې څه نشته چې قرآن قديم دى او که نه دى نو د نفي او اثبات ترمنځ توقف ورباندې د استقامت او سلامت لارې ته ډېر نژدې دي.

**دليل :**

که وويل شي چې قرآن قديم دى يا وويل شي چې قرآن قديم نه دى او بيا دا هره يوه خبره له واقعيت سره سمه نه وي صرف په گمان ولاړه وي نو

[1]. المؤمن / ۱۱.

[2]. هفتاد و سه ملت ص ۲۷ / او (رک به فرق الشيعه نو بختى طبع ريتر ص ۲۷) او (رک: تاريخ مذاهب اسلام ص ۱۰۴) او (الفرق المفترقه ص ۸۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناه ګار به شي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: «ان بعض الظن اثم»[1] نو بې له یقین باید ګمان ونه شي.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي : په دې مسئله کې توقف کفر دی.

**دلیل :**

بې له شک او بې له ګمان بلکې په صدق او یقین سره کلام د متکلم صفت دی څرنګه چې متکلم خدای تعالی دی او هغه قدیم دی نو صفات یې هم قدیم دي.

## ۲۴_ حشویه

**د نوم وجه:**

دې فرقې ته د دې لپاره حشویه وایي چې دوی په احادیثو کې داسې حشویې (اضافه توب) کړی چې په احادیثو کې هیڅ اصل نه لري او دا ټولې حشویې په جبر او تشبیه کې دي.

**عقیده :**

حشویه فرقه عقیده لري چې د خدای تعالی د کلام سامع او مامور په ازل کې نه و نو خطاب یې چا ته و؟

**دلیل :** دوی دا ایاتونو دلیل نیسي (کان الله و لم یکن معه شیء)[2] او (و اقیموا الصلوة و اتوالزکوة) [3] او (هل اتاک حدیث موسی از نادایه ربه

---

[1]. الحجرات / ۱۲.

[2]. هفتاد و سه ملت ص ۲۸.

[3]. النساء / ۷۹.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالواد المقدس طوی اذهب الی فرعون انه طغی)[1] نو چې د الله تعالی خطاب ته څوک نه و، موسی نه و، فرعون نه و، مقدسه وادي نه وه، محمد صلی الله علیه وسلم نه وه، نو کوم کلام چې سامع او مامور ونه لري عبث دی.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : موجودات د خدای تعالی په قدیم علم کې وو او خدای تعالی په خپل ازلي يقين ټولو باندې ليدونکی او په خپلو معلوماتو خپل کلام فرمايلي دی.

## ۲۵_ فانیه

**د نوم وجه:**

فانيه ته ځکه فانيه وايي چې د دوی عقيده د جنت او دوزخ په فنا کېدلو باندې ده.

**عقیده او دلیل يې :**

فانيه فرقه عقيده لري، چې د قيامت هيبت ثرگند شي اسرافيل (ع) ته به شپيلۍ کې د پو کولو امر وشي ((و نفخ فی الصور فصعق من فی السموات و من فی الارض)) [2] يعني او د اسرافيل عليه السلام په شپيلۍ کې به پوکی وشي نو هر څه چې په اسمانونو کې دي او هر څه چې په ځمکه کې دي له ځمکې او اسمانو سره به هلاک شي، نو چې ټول ژوندي حيوانات مړه او موجودات عدم شي جنت او دوزخ هم معدوم

---

[1]. النازات / ۱۵-۱۷.

[2]. الزمر / ۶۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي مگر ذات د خدای تعالی چې حی او قیوم دی (کل شیء هالک الا وجهه له الحکم و الیه ترجعون)[1] یعنې هر شی هلاکیږي مگر ذات د خدای حکم ده لره دی او ده ته رجوع کوونکي دي.[2]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : د خدايتعالی وعده داسې ده چې غير له ذات د خدای تعالی هر څه فنا کيږي او جنت د خدای تعالی د رضا صفت دی او دوزخ يې د عضب صفت دی او له قديم موصوف څخه د صفت انفکاک محال دی نو جنت او جحيم دې وجه کې داخل دي له دې کبله هلاک او فنا دوزخ او جنت ته لاره نه لري.

## ۲۲ـ اثريه

**د نوم وجه:**

اثريه فرقې ته د دې لپاره اثريه وايي چې دوی په اثر (حديث) عمل کوي او قياس باطل گڼي.

**عقيده :**

اثريه فرقه عقيده لري چې ټول احکام په کتاب او سنت کې شته کوم څيز يې په قران او حديث کې نه وي د هغو له مخې بايد ځان په وسوسه کې وانه چوي چې ووايي : شراب حرام دي ځکه چې مستي په کې ده. مونږ ته د دې قياس او تکليف اړتيا نشته، اولنی شخص چې قياس يې

---

[1]. القصص / ۸۸.

[2]. دا (الجنة و النار فی نفخ الصور يفيان) د ابوالهذيل علاف خبره ده. دی د اسلام د کلام له علماوو يو عالم دی. (تاريخ مذاهب اسلام ص۱۲۱) (هفتاد و سه ملت ص ۲۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی شیطان و ځکه چې ادم علیه السلام ته د سجدې کولو امر وشه. ده قیاس وکړ چې زه له اور او ادم له خاورو پیدا شوی. اور حقیقت او نوراني دی[1] خاوره مطلقه کثیفه او تیاره ظلماني ده نو اور تر خاورې غوره دی نو د اور به څه وظیفه وي چې خاورو ته سر کیږدي، ابلیس له خدای تعالی سره خبرو کې شو او ویې ویل : ((خلقتني من نار و خلقته من طین))[2] یعني زه دې له اور پیدا کړی یم او دی دې له خټو پیدا کړی دی، څرنګه چې خپل وسواس یې څرګند کړ او خپل قیاس یې په قول کې راووړ د ((فاخرج منها فانک رجیم))[3] یعني نو له جنته ووزه بېشکه ته رټل شوی یې. د دې ایت د مفهوم په تازیانه ووهل شو او له جنت وویستل شو. د ملکې بڼه ترې ولوېده، مسخ شو ،اسماني و، ځمکني شو ، دا ټولې سزاګانې په دې ورکړ شوې چې: له عقل یې قیاس وکړ. که د امر اطاعت یې کړی وای دا کاني به نه وربانديې کیدلې. نو مونږ ته قرآن او خبر کافي دی، په شرعي مسئلو کې قیاس مصلحت نه دی، هر څه چې په قیاس نفي یا اثبات شي باطل دي.

**اهل سنت او جماعت :**

---

[1]. ابو حنیفه رحمه الله ابي عبدالله (جعفر بن صادق کره لاړ هغه وویل : ای ابو حنیفه ته قیاس کوې) وویل: هو ، وویل : قیاس مه کوه. اولنی قیاس شیطان کړی چې: زه له اور پیدا یم او دی له خټو پیدا شوی دی نو د اور او خټو ترمنځ یې قیاس وکړ، او که د ادم نوریت یې د اور په نوریت قیاس کړی وای نو د دواړو نورونو څخه د یوه فضل او صفایي په بل څرګنده ده. (الکافي ج ۱ ص ۵۸)

[2]. الاعراف / ۱۱.

[3]. الحجر / ۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي : شرع څلور اصول لري : كتاب، سنت، اجماع او قياس[1] ځوك چې قياس نه منكر شي د شريعت يو اصل به يې نفي كړى وي، گمراه او متبدع به وي، كتاب يعنې قرآن مجيد او سنت مشترك لفظ دى په منځ د قولي، فعلي او تقريري حديث او په منځ د هغه څه كې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم بدون له وجوب پرې هميشه والى كړى وي او دوه ډوله دى: سنة هدى چې سنت مؤكد هم ورته وايي لكه : اذان، اقامت، اوسنى زوائد لكه د منفرد اذان او مسواك (تعريفات جرجاني).

او قياس په لغت كې تقدير او په اصطلاح د شريعت كې ردول د يوه شي دي خپل نظير ته يې او هغه له نصر مستنبطه معنا ده لپاره د تعديت د حكم له منصوص عليه غير له هغه او هغه جمع ده په منځ د اصل او فرع كې په حكم كې او اجماع په لغت كې عزم او اتفاق ته وايي او په اصطلاح كې د مجتهدينو اتفاق دى د محمد صلى الله عليه وسلم له امت ځني په ديني كار كې (تعريفات)

## ۲۷_ مولهيه

**د نوم وجه:**

مولهيه يعنې د ضرورت وړ مال ورته وركړ شو نو مولهيه فرقه هم د خداى تعالى علم په ضروري شيانو بولي ځكه ورته مولهيه فرقه وايي.

**عقيده :**

---

[1] . قياس په لغت كې عبرت او عبور تېرېدلو ته وايي، قرآن كريم كې راغلي دي: (فاعتبروا يا اولى الابصار) الحشر/۲ يعني قياس وكړئ عبرت واخلئ اى د ليدلو او سوچ كولو خاوندانو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولهیه فرقه عقیده لري، چې خدای تعالی په کلیاتو محیط دی نه په جزئیاتو لکه د نړۍ پاچایان چې خپل وزیران، نوابان او مشران پیژني، نه دا چې په هر کلي، هر ښار کې څومره نر او څومره ښځې، څومره ځوانان او څومره سپین ږیري، څومره ضعیف دي؟ څه کوي؟ څه غواړي؟ چېرته ځي، چېرته ویده کیږي؟ له دې کبله دوی وایي چې خدای تعالی په لوح، قلم، عرش، کرسي، اسمانو، ځمکې، مقربو پرښتو، لمر، سپوږمۍ، جنت او دوزخ، ستورو، دریابو، غرونو، انبیاوو، رسولانو، اولیاوو، خلفاوو، سترو کافرانو لکه فرعون، نمرود، عاد، ثمود، شداد، قارون، هامان علم لري په دې کلیاتو یې علم محیط دی او نورو مخلوقاتو ته یې (چې جزئیات دي) علم لاره نه لري. (العیاذ بالله) او له محقراتو خبر نه دی.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي: د خدای تعالی علم ته ذره او لمر برابر دي، هغسې چې د قاف غر ویني او علم پرې لري د وښو پاڼه هم ویني او علم ورباندې لري، د سترګو او وروزو اشارې له خدای تعالی پټې نه دي. الله تعالی په هر څه کلیاتو او جزئیاتو علم لري.

**دلیل :**

الله تعالی فرمایلي دي: ((وما یعزب عن ربک من مثقال ذرة فی الارض و لا فی السماء))[1] یعني ای محمده! ستا له رب په ځمکه او نه په اسمان کې د مثقال له ذرې پټ نه دی، علم ورباندې لري او هم یې فرمایلي دي

[1]. یونس / ۶۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

: «وما تسقط من ورقة الا يعلمها ولا حبة فی ظلمات الارض ولا رطب ولا يابس الا فی کتاب مبين»[1] يعنې که څه پاڼې يا دانې د ځمکې په تيارو کې ولېږي په هغه علم لري ځکه چې هر څه وچ او لامده ټول لوح محفوظ کې ښکاره ليکل شوي دي.

# ۲۸_ مبدليه

**د نوم وجه:**

څرنګه چې مبدليه فرقه عقيده لري، چې توبه د ځان په وژلو کيږي يعنې چې ژوند په مرګ بدل کړي ځکه ورته مبدليه وايي.

**عقيده :**

مبدليه فرقه عقيده لري، چې څوک کبيره ګناه وکړي توبه يې نه قبليږي ځکه چې د بندګۍ له حد يې تجاوز کړی دی، قتل يې واجب دی او توبه يې قتل (وژنه) ده.

**دليل :**

د دوی دليل دا فرموده د خدای تعالی ده: «الی بارئکم فاقتلوا انفسکم»[2] يعنې نو خپل خدای ته توبه وباسئ نو خپل ځانونه ووژنئ؛ او فرمايلي يې دي : «و من يتبع غير الاسلام ديناً فلن يقبل منه»[3] يعنې څوک چې غير له اسلام دين وغواړي نه ترې منل کيږي.

**اهل سنت :**

---

[1]. الانعام / ۵۹.
[2]. البقره / ۵۱.
[3]. ال عمران / ۷۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صغیره گناهونه په نیک عمل او توبه بښل کېږي او د کبره گناهو بخښل د خدای تعالی په مشیت پورې اړه لري او شرک بیخي نه بخښل کېږي.

دلیل یې دا مبارک ایت دی : (ان الله یقبل التوبة عن عباده)[1] یعني الله تعالی هرو مرو د خپلو بندگانو توبه قبلوي. (ان الله لا یغفر ان یشرک به و یغفر مادون ذلک لمن یشاء)

## ۲۹_ کنزیه

**د نوم وجه:**

کنزیه فرقه په دې نوم ځکه ملقبه شوې ده، چې دوی وايي د خدای تعالی حقوق دې ځمکه کې خزانه (کنز) شي.

**عقیده :**

کنزیه فرقه عقیده لري چې په مال کې د خدای تعالی له خوا فرض کړی شوی حق د خدای تعالی مال دی په مالدار فرض دی چې هغه چا ته یې ورکړي چې خدای تعالی ته قرب لري څو چې قبول شي څو په دې څوک نه پوهیږي چې خدای تعالی ته قریب او مقبول څوک دی، نو لاره دا ده، چې : زکوة دې نقد کړي او ځمکې لاندې دې خښې کړې خزانه کړې کله چې په خپله محتاج شي هغه مال دې په ځان او خپلو اړتیاوو ولگوي او که محتاج نه شي خاورو لاندې دې وي څو چې مستحق ته په لاس ورشي او هغه مال په خپل حال ولگوي.

**اهل سنت او جماعت :**

---

[1]. التوبه / ۱۰۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت او جماعت وايي: خدای تعالی د مال مستحقين په قرآن کې ياد کړي دي چې اته طائفې دي زکات بايد هغوی ته ورکړ شي ځکه چې د هغوی حق دی.

**دليل :** الله تعالی فرمايلي دي: ((اما الصدقات للفقراء والمساكين و العاملين عليها و المؤلفة قلوبهم و فی الرقاب و الغارمين و فی سبيل الله و ابن السبيل))[1] يعني بېشکه همدا خبره ده چې صدقې (زکات مصرفيږي) لپاره د فقيرانو او مسکينانو او عاملانو (مقررو) هر هغه (تحصيل د صدقې) او هغو ته چې الفت (اشنايي) اچول شي په زړونو د دوی کې (له اسلام سره) او (مصرفيږي) په (خلاصولو د) غاړو (د نادارو مکاتبانو) کې او پوروړو (تاوان ميندونکو) او (صرفيږي) په لار د الله کې او (صرفيږي لپاره د) مسافرانو (چې مال ورسره نه وي).

# ۷۰_ صوفيه

**د نوم وجه:** څرنګه چې د صوفيه فرقې عقيده په تصوف بنا ده ځکه ورته صوفيه وايي.

**عقيده :**

صوفيه فرقه عقيده لري چې: د زړه سلامتيا په تنهايۍ کې ده او صفايي په زړه کې ده نو څوک چې له اغيارو منع او حق تعالی ته واصل شي د طالب طلب عرش ته رسيږي له هغه ځای او افاق نه بېرته نفس ته رجوع کوي، نفس کې ننوځي بيا له خپتو ظهور کوي او په خپتو کې ورکيږي تن زړه شي او زړه روح شي او روح د جانان جان شي مجرد،

[1]. التوبه/ ۶۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفرد او اسوده، نه په زړه غبار وي او نه په شا بار وي، نه يې زړه کې بازار ګرځي او نه يې چا سره شمار وي، نه د چا ورسره کار وي، د ده مجلس درګاه سره شي او د ده مؤنس الله تعالى شي، د ابدالي نظام ته ورسيږي، د اذاق او انفس ايات هر نفس مشاهده کړي، په سعادت وخت تيروي، کله رجوع احسان ته کوي کله نشه کوي کله شکايت او کله شکر کوي کله لاهوت کله ناسوت کله جبروت، کله ملکوت شي، کله هست او کله نېست شي، کله فنا وي کله تلوينات د تمکيناتو په طی کې وي: په رباني قضاياوو کې لاس له انساني تدبير منځي مقام د بندګۍ او بېچارګۍ ته ځان وررسوي.

**دليل :**

د دې دليل چې سلامتيا تنهايۍ کې ده (السلامة فی الوحدة)[1] او د دې دليل چې صفايي په زړه کې ده (الا من اتى الله بقلب سليم)[2] د دې دليل: چې ځوک له اغيارو منع او حق تعالى ته واصل شي (تبتل اليه تبتيلا)[3] او د دې دليل چې د طالب طلب حق ته رسيږي (وهو معکم اينما کنتم)[4]

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : دا کار دولت ديچې د چا روزي شي.

**دليل :**

---

[1]. عربي متل هم دی.

[2]. الشعراء / ۸۹.

[3]. المزمل / ۸ يعنې جلا شي رب خپل ته په جلا کيدلو کاملو سره.

[4]. الحديد / ۴ يعنې او دغه الله له تاسې سره دی (په علم او قدرت سره) هر چيرې چې يې تاسې. مګر هغه چا ته چې راغلی دی الله ته په زړه سلامت پاک (له کفر او نفاقه) يعنې په روغ زړه خدای تعالى ته راتګ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیل یې دا قول د خدای تعالی دی: (ذلک فضل الله یؤتیه من یشاء والله ذوالفضل العظیم)[1]

## ۷۱ـ دهریه

**د نوم وجه:** څرنګه چې دهریه فرقه په بقا عقیده لري ځکه ورته دهریه وايي.

**عقیده :**

دهریه فرقه عقیده لري، چې د شپې او ورځې، ځمکې اسمان، ژمی، روژې او د ژمي ګردش هر څه چې دی همدا دی.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وايي : دهریه فرقه له ایمان خلاصه ده، د مصنوعاتو له صانع او شپې ورځې نه غافل دي. په احادیثو کې راغلی دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې چا د وخت له پریشانۍ شکایت کاو او زماني ته یې بد او رد (کنځا) کولې. رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی منع کړل او ورته ویې فرمایل : (لا تسبوا الدهر فان الله هوالدهر)[2] رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی د دې لپاره زمانې ته له کنځا کولو منع کړل چې دوی پوه شي : د زمانې په اختیار کوم صلاحیت د حل او عقد نشته بلکې د زمانې متصرف واحد

---

[1]. الجمعه / ۴ یعني دغه (نبوت د الله (له طرفه) لوی فضل دی هغه چا ته ورکوي چې اراده یې ورته فرمايي او الله د ډېر لوی فضل څښتن (خاوند) دی.

[2]. جامع الصغیر ج ۲ ص ۲۳ یعني زمانې ته کنځا مه کوه نو بېشکه الله همدی دهر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قهار دی لکه چې الله تعالی جل جلاله فرمایلي دي (یقلب الله اللیل والنهار)[1]

## ۷۲_ شمراخیه

د نوم وجه: شمراخ د خرما او انګورو وړو ته وایي. د شمراخیه عقیده کې هم دنیا د بڼ په څېر ګڼل شوې بڼ کې هم د خرما یا انګورو ونې وي ځکه ورته دغه نوم شمراخیه کېښودل شوی دی.

**عقیده :**

شمراخیه فرقه عقیده لري چې دنیاد شنه بڼ په څېر ده او ښځې په کې د دې بڼ ریاحین دي چې د بوئیدلو لپاره دي نو څوک چې فحشي او زنا کوي باک نه لري، دوی د ټولو ښځو سره جماع حلاله او مباح بولي محرمې او که غیر محرمې وي هره ښځه چې ځان تسلیم کړي هغه عین ملک دی، نکاح، شاهد او د ولي اجازې ته اړتیا نه لري.

**اهل سنت او جماعت :**

اهل سنت او جماعت وایي: دا د اباحت مذهب دی، حرام حلال ګڼل کفر دی. په دا سې کړو د ادم اولاد مختلط کیږي. د نسل رواج کې خطا راځي، میراث غیر مستحق ته ورکول کیږي، حرام زاده ګان منځ ته راځي، حرام زاده د جنت بوی نه بویوي.

---

[1]. النور / ۴۴ یعنې ګرځوي الله شپه او ورځ (په تبدیل، تزئید) تنقیص، حرارت، برودت، ضیاء، ظلمت، او نور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دلیل** : الدیوث فی النار – الغیرة من الدین)[1] نو زنا قبیحه لار او فضیحه کبیره گناه ده. الله تعالی فرمایلي دي : ((ولا تقربوا الزنی انه کان فاحشة و ساء سبیلا))[2] یعنې او مه نږدې کیږئ تاسې زنا ته بېشکه چې دا زنا قبیحه ده (عقلاً او شرعاً) او بده ده دغه زنا له جهته د روش هم (چې زیان او فتنه ترې پیدا کیږي)

## ۷۳_ سنیهٔ

**د نوم وجه** : سنیة نسبتي نوم دی چې د لاروي معنی لري او سنة د لارې معنی لري په شرع کې د محمد صلی الله علیه وسلم تګ لارې ته وایي څوک چې د هغه صلی الله علیه وسلم په لاره ځي سنیه یا اهل السنة بلل شوي دي.

**عقیده :**

سنیه فرقه د کتاب ختم دی (ختامه مسک و فی ذلک فلیتنافس المتنافسون)[3] یعنې مهر به یې مشک وي او په دغه (شرابو او نور جنتي نعمتو) باندې بایده دی چې رغیت کوونکي رغبت وکړي (په کولو د فضایلو او پرېښودلو د رذائیلو چې په حسناتو بیړه وکړي او له سیئاتو ځان وساتي).

دا اهل سنت او جماعت دي په مراد رسیدلي دي د اسلام ښکلا دي او د کلمة الله اعلاء او د شعائر الله اقامه پر دوی ده، له افراط او تفریط یې

---

[1]. لا یدخل الجنة دیوث، لا یجد ریح الجنة دیوث، قیل یا رسول الله و ما الدیوث؟ قال الذی تزنی امراته و هو بعلم بها (سفینه بجار مجلسی ج ۱ ص ۴۷۴

[2]. بنی اسرائیل / ۳۲.

[3]. المطففین / ۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احتـراز او ځـان ژغورنـه کـړې ده، د درجو څېښـتنان دي او د احتـرام وړ دي لـه هرې فرقـې سـره يـې دلـيـل ويلـی دی. لـه قـرآن او حـديث سـره يـې همـرازي کـړې ده او لـه ۷۲ ملتـو هـر ملـت سـره يـې خبـرې قـوت لـري او عبارت يې تازه وي.

الحمـد لله چې د عقيـده پوهنـه څلـورم کتـاب هـم (اسـلامي ۷۳ فرقـې پـه خير پای ته ورسيد او دريم کتـاب د فقـه اکبر مـتن او د پښـتو ترجـه يـې وروسـته راځي.

الحاج پروفيسور دکتور قاضي حفيظ الله ښاد جبارخيل

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

١ـ قران مجید.
٢ـ سرگذشت ایمان
٣ـ تجلی خدا در افاق و انفس
۴ـ محمد علی سادات، اصول و مبانی خدا شناسی استدلالی چاپ سال ١٣٢١ انتشارات هدی ایران.
۵ـ پوهاند اسد الله شینواری، خداجویان لکچر نوټ د افغان پوهنتون.
۶ـ کتاب الانصاف طبع استنبول ترکیه.
٧ـ هفتاد و سه ملت به ٧٨٠ هـ کال د دکتور محمد جواد مشکور په اهتمام او تصحیح چې د پوهنتون استاد دی، لیکوال یې معلوم نه دی خو د اهل سنت او جماعت پیرو معلومیږي.
٨ـ فروغي، شرح حکمت د اروپا چاپ.
٩ـ فخر الدین رازي، اعتقادات فرق المسلمین.
١٠ـشیخ عطار، تذکرة الاولیاء طبع طهران.
١١ـ تبصرة العلوم.
١٢ـ احیاء العلوم غزالی.
١٣ـ جامع الصغیر.
١۴ـ شرح مواقف.
١۵ـ فقه اکبر.
١۶ـ شرح عقاید نسفی.
١٧ـ الاربعین.
١٨ـ د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه وصیت.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حاجي خان محمد باز) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا ددې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې ددې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**